بسم الله الرحمن الرحیم

# دکتاب ځانګړنې

د کتاب نوم : ترهګر

لیکوال : محمد نعمان دوست

د چاپ کال : ۱۳۸۵ ل

www.Ketabtoon.net

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يادونه :

په دغه کتاب هر هغه څوک چې دلنډې کيسې په فن کې مهارت ولري ، تبصره کولی شي ، پر ځای او رغنده تبصرې ، نيوکې او وړانديزونه به په راتلونکي کې را سره لا مرسته وکړي .

ايمل ادرس : numandost75@yahoo.com

## تړون :

ټولو هغو کړېدلو انسانانو ته ، چې په ګڼو نومونو او څېرو ، په دغه ټولګه کې د راغلو کيسو د کرکټرونو په توګه راڅرګند شوي دي .

## منته

که د ځوان ژورناليست عبدالمعيد هاشمي ، مخلصانه هلې ځلې نه وای ، نو خدای خبر که دغه ټولګه تر تاسو رسېدلې وای .

دوست

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک

له کیسو مخکې
بختور
محروم
ترهګر
غریب تنظیم
کوڼ
پنځه ډزې
سرې دایرې
د مړي په جیب کې
خانداني
بې تصویره
سره لوپټه
د دښتې په منځ کې
بې ځوابه
شرمېدلی
کاکل
نیمګړی اثر
سور پاکټ
زوړ ګیلن
بې کوره
چنار ځنګه مات شو ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کیسو له لوستلو مخکې :

له نږدې درې لسیزو راهیسې په هېواد کې د جګړې وړې دیوان تېره غاښونه ګرځي را ګرځي ، په هرګام کې پر سینو پښې ږدي او په مریو غاښونه خښوي .
هره خوا چیغې دي ، غلبلې دي خو اورېدونکو سره یا د بیان ځواک نشته اویا ورته تکراري اوازونه ښکاري .
همدا لامل دی، چې دغو بې شمېره تراژیدیو ، د کاغذونو مخ ته لکه څنګه ، چې په کار ده لاره ونه موندله ، چیغې په هوا کې تاوې را تاوې شوې ، سترې شوې او بیا هملته غیبې شوې .
د لنډو کیسو کومه ټولګه چې اوس ستاسو په لاسونو کې ده ، دا د همدغه شان غمیزو خال – خال انځور دی .
خو ما په قصدي توګه هڅه نه ده کړې ، چې یو تراژید اثر رامنځ ته کړم ، بلکې دغو چیغو او ساندو مجبور کړی یم ، سترو ارواحو مې د زړه ورټکولی دی او د سوالګرو په څېر راته ځوړند سرونه درېدلي دي او تر هغې راته ولاړې دي، چې ترڅو مې غم ورسره ژړولی نه دی .

ما دکیسو له کرکټرونو سره یوځای اوښکې تویه کړي او کله ـــ کله خو یې دومره پرېشانه کړی یم ، لکه د خپلې کورنۍ غړی چې مې له لاسه ورکړی وي .
ما دجګړې د دیو د غاښونو خرپا او د انسانانو په غوښو د هغه د شخوند غږ اورېدلی دی ، ماهغه چیغې هم اورېدلې دي ، چې ورونو او خویندو مې ددیو په پنجو کې وهلې .
مالیدلي ، چې هغوی څنګه اخوا دېخوا لاس اوپښې وهلې، خو دیو پرې هماغه شان خوښېده او له رګونو یې وروستۍ څاڅکي زبېښل .

نو که دغو کیسو مو معمولي هم زړه نرۍ کړ ، د کیسې د فن او یا زما له خوایې مه ګڼئ ، دابه د هماغه چیغو اثر وي ، چې د زړه له تله را وتلي دي .

۱۳۸۵ د مرغومي شپږمه
کابل ، د زمانخان کلا

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بختور

په هغه ورځ ، تابه وې په ا مبو لانسونو کې هم زړونه پیدا شوي وو ، په خپلو چیغو یې د وزیر اکبر خان روغتون ودانۍ ښوروله او په با مونویې لکه د ټپیانو وینې سرې رڼا ګانې تا وېدلې. امبولانسونه پوره لالهانده وو ، شېبه په شېبه دروغتون مخ ته درېدل او په وینو ککړ بدنونه ترې را ښکته کېدل .

په هغه ورځ له سرونو تور پاچ لنګوټي غورځېدلي وو او له پښو ، لاسونو ، ملاګانو او زنو راتاو ، وو.

د زګېرويو غږونه به تېز شول او بیا به یو دم د شهادت د کلمې غږ تر نیما یي وا ورېدل شو او نوره به د څو شیبو له پاره چو پتیا خوره شوه.

شېبه وروسته ، بل امبو لانس د چیغو له بد رګې سره د رو غتون مخ ته ودرېد ، په بېړه یې د شا پټه پرا نېستل شوه ، په وینو سور زلمی یې ترې را ښکته کړ ، په یوه پښه یې سره څپلۍ چې ځای —ځای پر ې سپین ګل مېخونه وهل شوي وو پښو وه ، بله پښه یې له څپلۍ سره نه وه. دوا سکټ ښي پلو یې دوه غټ سوري ښکا رېدل او د چپ اړخ کوچنۍ اینې یې لمر ته ځلېدلې .

مخ یې نه معلو مېده . دواړه شونډې یې داور له تاوه بېرته شوې وې او مخامخ دوه غا ښونه یې ترې ښکا رېد ل .

ور پسې یې بل ځوان ، چې پلن ټټر یې وو او له غنم رنګه مخ نه یې سوچه لنډه ږیره راتاوه وه ، په ټایر لرونکي کټ کې وا چو .

د کټ پر پښو او با زو ګانو لیکه — لیکه وینې را روانې شوې .

هغه ژر — ژر کېن او ښي اړخ ته سر اړوه را اړوه او ژبه یې په وچو شونډو تېروله.

په نور بدن یې ټپونه ، نه ښکا رېدل ،خو تر نامه لاندې نه یې په چټکۍ وینه راوتله . سر یې ودرېد ، سترګې پټې شوې ، خو نا څا په یې د اسې چیغه وکړه چې له هیبته یې د ټولو زړونه سست کړل . هغه په چیغه کې څه لنډه جمله هم ووې ، خو څوک پرې پو ه نشول ، دې چیغې مې هډونه ولړزول او نور مې دلیدلو وس با یلود .

(c) ketabton.com: The Digital Library

له هغې وروسته مې تر ډېره له امبو لانسونو کرکه کېده ، شفا خا نې مې په خوب لېدلې او دروغتون په لاره نه تلم .

نن چې ښځګه خونې ته را غلم ،کټ کې وغځېدم ، لامې سترګې پټې شوې نه وې ، چې ټېلېفون نه غږ پورته شو ، ور خطا شوم ، د ټېلېفون غوږۍ مې را واخېسته : الو! سلام الیکم ، د قاري صیب مرکز دی ؟

ما یې غږ ونه پېژاندخو ، چې ښځګه مې د هو ځواب ورکړ ، هغه وپېژاندم او بیا یې په سترړي غږ ، چې د ژورې ساه اخیستلو اواز یې هم راته ، وویل :

های ، نا ځوانه ! پوره میاشت شوه ، پنځه نفر ه په یوه کوټه کې پراته یوو ، څوک موخبر نه اخلي ، کور والا خبر نه دي او تا سې انډیوالان تشه پوښتنه نه کوئ او پسې زیاته یې کړه : دوزیر اکبر خان شفا خانې دریم منزل ، د ښي لاس اتا قو کې مې پوښتنه کوه ، نومره یې ماته هم نه ده مالومه .

سبا ، یوه بجه ورسېدم ، هره خونه کې ټپي ځوانان پراته وو ، چې ښځګه مې بلې خونې ته سر ور دننه کړ ، نږدې وو ، چې له کټه را ټوپ کړي . ځان مې ور ورسو او را ټینګ مې کړ .

درې واړو ټپیانو راکتلې ، ټولوته مې ډاډ ورکړ ، مخامخ دوه تشو کټونو ته مې لاس ونیو ، ماوې دا څه شول ؟

هغوی لکه چې همدې پوښتنې ته په تمه وو ، سترګې یې ډنډ شوې ، غلي وو ، شونډې په غاښ کړې . ژړا یې غلې کړه خو په اوښکو یې وس ونه رسېد ، په خپلې پو ښتنې پښېمانه شوم .

شېبه وروسته یوه زړه غټ کړ: هغوی یې همدا نن شپه رانه ووېستل ، او س به یې پرې خاورې اړولې وي . له دې خبرې سره درې واړو ښه په زوره وژړلې .

دژړا غږ له خونې ووت او ورسره سم ور پرانېستل شو ، یو ځوان ر اننوت ،څېره یې راته اشنا ښکاره شو ه ، ټولو ته یې ډاډ ورکړ او بیا پر یو خالي چپر کټ لاس تر زنې کېناست . ټپیانو ټولو په هغه سترګې ونښلولې او دا سې غلي شول ، تا به وې د هغه په لیدلو یې هر څه هېر شول . هغه له زنې لا س لرې کړ ، ژوره ساه یې را ښکله ، ټو لو ته یې وکتلې ، سترګې یې سرې شوې او بیا یې ووې: هغوی بختور وو ، کاشکې زه هم ... نوره خبره یې ستونې کې وچه شوه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

حیران وم ، کله مې ټپیانو ته ، چې سرونه یې څوړند نیولي وو او کله ده ته چې سترګې یې په چت نښلولې وې ، کتلې .
هغه له چته سترګې ښکته کړې او ماته یې مخامخ کړې : ملا صیب! ته ووایه له مانه بختور نه وو ؟
هک پک شوم ، ملګرو ته مې وکتلې ، خو هغوی لکه چې په خبره پوه وو ، هماغه شان غلي وو ، زړه مې غوټه کړ: نه ، هغوی دې خدای وبښي ، بختور ته یې چې ژوندی یې .
په دې خبره یې مخ سور شو ، سترګې را ووېستې : نه ، ته نه پو هېږ ې. زه بد بخته یم او بیا له دې خبرې سره له کټه را پورته شو . مخ په ما را غی ، له زړه مې یو خدای خبر و ، ځنګ ته مې کېناست ، پر اوږه یې راته لا س کېښود ، سر یې وښورو : ته بختور نه پېژنې ، نه پېژنې او بیا یې له لږ دمې وروسته زیاته کړه :
په څه جرګو او ننواتو مې یو کال مخکې کوژده وکړه ، دا میا شت مې دواده نېټه وه ، ټول خپلوان او اندېوالان مې د وا ده له پروګرام نه خبر وو . کورته تلم ، چې د جنګ تشکیل کې برابر شوم ، د هرې ګولۍ لګېدو سره مې خپل واده یا دېده ، یو نا څاپه مې ځنګ ته دز شو ، سره لنبه پورته شوه اوله دې سره سم مې یو ه پرچه په ګېډه او بله له نامه ښکته ولګېده ،اوس... نه ځان وژلی شم اونه کورته تللی شم .
ته نه پوهېږې زه بختو...
خبره یې نیمایي کې پر ېښوده او له چیغې سره په منډه له خونې ووت.

کا بل — میر ویس میدان
٤ - ٣ — ١٣٨٣

(c) ketabton.com: The Digital Library

# محروم

په کوړکي له ټولو مشروم ، همدغه مشر توب راته غم جوړ کړی و ، ځکه زموږ په ملک کې چې څوک مشر شي يابه په نورو ظلم کي او يا به پرې د نورو غم ور بار وي .

زه هم له دې دوهمې ډلې څخه وم ، د کور ټول لګښتونه ، د څارويو پالنه ، دځمکې کارونه ... او هر څه ځما په غاړه وو .
همدا کارونه وو ، چې زه يې دژوند له خوږو بې برخې کړی وم او په ځوانه ځوانۍ کې يې راته دملا او پښو دردونه پيدا شوي وو .
ټوله ورځ مې پټيو کې په کار تېرېده ، کله خو به مې غرمنۍ هم ، هملته ديوې پولې په سر له ستونې تېره کړه .
په هغه ورځ مې له ملا اذانه کار شروع کړ ، ما وې د سبا کار به هم ، نن خلاص کړم ، يوه ورځ به دمه شم ، خو زما دمه د خټ ګرو دمه وه.
ماښام کور ته راننوتم ، د انګړ منځ کې په شلېدلي کټ ، چې موږ به وينځل شوي لوښي پرې لمر ته ايښودل ، خور ور پرېوتم ، يوه سترګه خوب مې وکړ ، ډوډۍ ته يې پاڅولم . هم مې ډوډۍ خوړه او هم مې د سبا ناليدلي ورځ پر زړه ګرځېدله . کله به مې ويل : د چاى له څښلو وروسته کټ او بالښت اخلم او هماغه د سيند د غاړې چنار لاندې آن تر غرمو خوب کوم. کله به مې ويل نه ، هاغه د ملګري کور ته ځم او کله ...
زه لا په همدې خيالونو کې وم ، چې مور مې غږ کړ: بچی! دا څو يمه ورځ ده ، چې په کور کې دانه وچکې نشته ، په بوټو او پاڼو هم تنور اچوو او هم پخلی کوو ، له ډېرو پوکولو نه مې سر په درد دی .
يو شېبه مې سرشاته پر دېواله کېښود ، سترګې مې پټې کړې او د چنار سيورى او د ملګري کور مې سترګو کې تاو راتاو شو ...
جګ شوم ، تبر او رسۍ مې څنګ ته کېښودل ، زما څو نور ګاونډيان هم غره ته تلل ، د چاى پياله مې هماغه شان ډکه پرېښوده ، مونځ مې وکړ او بيا له تبر او رسۍ سره خپل کټ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخوځېدم ، ماوې : همدا اوس ویده کېږم ، چې هر وخت هغوی غږ کړ راویښ مې کړئ ، کټ کې وغځېدم او له غځېدو سره سم مې سترګې پټې شوې :

ما کټ د سیند غاړې ته ایښی و ، سیند ! لکه هغه چې هم ما غوندې له ژونده ستړی و ، له خولې یې شنه ځګونه بادېدل ، مخ په ښکته په بیړه- بیړه روان و .

یخ شمال به کله نا کله د اوبو مهین څاڅکي زما پر مخ را شیندل ، دواړه سترګې مې په سیند نښتې وې ، شاته مې د ګامونو اوازشو ، په بل اړخ واوښتم ، هماغه ملګری موسکی ، خو لږ څه مرور غوندې ولاړ و. ورجګ شوم . ما لا څه ویلي نه و ، چې هغه په طنزیه شکل څو کرته د آفرین کلمه ، د سر په خاص حرکت تکرار کړه او بیایې زیاته کړه: همداسې وي ملګرتیا ؟ زه څومره بېمار شوم او تا یو ځل پوښتنه هم ونه کړه. زه غلی وم ، اخر مې ووې ، ګرانه ! ډېر رایادېدلې ، باور وکړه هماغه یوه میاشت وړاندې مو چې لیدلي وو ، له هغې را وروسته دا لومړی ورځ ده چې دمه یم ، همدانن مې نیت و ، ښه شوه چې خپله راغلې. راځه کېنه ، چې د خپل ستړي ژوندکیسه درته وکړم . هغه کېناست خو لاما خپله کیسه نه وه پیل کړې ، چې چا وخوځولم ، پورته والوتم ، سترګې مې رڼې کړې ، مور مې غږ کړ: هله زویه ! ګاونډیان دې درته ولاړ دي . پورته شوم . پوه شوم چې په خوب کې هم د ژوند کیسه چاته نشم اورولی .

سترګې مې وموښلې ، رسۍ مې له ملا راتاوه کړه ، تبر مې پراوړه کړ ، مخ په غره وخوځېدو . لمر لا د غره د سر له ونو خپل مخ پوره نه و ښکاره کړی ، چې ورسېدو ، یوه شېبه په غتمه او توره تیږه دمه شوو ، بیا هر یو په جلا- جلا لاره روان شو. زه هم دغره ابلې ډډې ته لاړم . ملګرو مې لا ګېډې نیمایي نه وه پوره کړي ، چې ما خپل لرګي پوره او ومې تړل . ونې ته مې تکیه کړل او بیا د خپلو ملګرو څنګ ته لاړم :

که خپه کېږئ نه ، زه به لږ مخکې لاړ شم ، تاسو ته خو زما حال معلوم دی . یوازې یم ، چې کارونو ته ځان ورسوم . تولو خوښه راکړه ، په منډه لاړم ، ګېډی مې په شا کړ. پخوانۍ لاره مې پرېښوده او په یوه لنډه او نالیدلې لاره ، چې په وچو وښو پوښلې وه روان شوم .

تولو لاره راسره د کارونو غم و ، ښه ستړی شوی وم ، په یوه شنه ونه مې سترګې نښتې وې او د هغې سیوری مې د دم ځای لپاره غوره کړ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ور نږدې شوم ، خو لا پوره نه وم رسېدلی ، چې یو درز سره مې له پښو شنه لوخړه پورته شوه او بیا نور پوه نشوم .

خدای خبر څومره وخت به وتلی و! یو وخت ، چې مې سترګې پرانیستې ، ټول زما په شان پر کټونو پراته وو ، چا زګېروي کول ، چا شیبه په شیبه ژبه خوله کې ننوېسته او راوېسته .

د چا لاسونه ، نه وو. د چا پښې او د چا هم د سترګو ځایونو کې سپینې پاغوندې ایښودل شوې وې.

زما خپل ځان ته پام نه و ، په پښو مې سپینه پرده ، چې د وینو خاپونه وربانديې وو ، خوره وه . یو وخت ، یو ډله خلک ، چې دنګ قدونه یې لرل او بل شان خبرې یې کولې راننوتل ، زموږ نومونه یې ولیکل او لا هفته پوره نه وه ، چې له خپل ملکه یې واړولو.

هلته زموږ هر څه نوي او ښکلي وو ، د هغه ځای خونې ددې ځای په څېر په وینو لړلې نه وې ، هلته به په یوه کوټه کې یواځې یو یا دوه ټپیان پراته وو. ډاکټرانو پسې مو سترګې کږې نه وې ، وخت په وخت راتلل ، خوراک مو هم ښه شوی و.

یو وخت مې ځان ته پام شو ، ښۍ پښه مې له زنګانه ښکته نه وه ، د پښې په لیدلو مې ټوله بېوزله کورنۍ سترګو ته ودرېده ، خپل نیمګړي کارونه رایاد شول . واړه ورونه ، زړه او بې وسه مور چې یوه لحظه یې هم بې له ما چاره نه وه را په زړه شوه ، بیا مې په خپله پرې پښه سترګې ولګېدې ، چیغه رانه ووته او په ځان پوه نه شوم.

شېبه پس مې سترګې پرانیستې ، د کټ اړخ ته مې دنګه جینۍ ولاړه وه ، سره طلایي وېښتان یې پر سپین او نازک مخ ګډوډ پراته وو ، ترډېره وخته یې پرما سترګې نښتې وې ، د هغې شنو سترګو کې اوښکې لکه شین سمندر وخوځېدې ، نرۍ- نرۍ یې پرمخ راروانې شوې . ماوې که زما د بې وسۍ او د کور له یوازېتوبه چا خبره کړې ، زما هم سترګې ډنډ شوې ، زړه مې ډک شو ، هغې یو ځل بیا زما پښې ته وکتل ، شونډې یې په غاښ کړې ، په خپله ژبه یې څه وویل او بیاروانه شوه.

ما له هغه سري څخه ، چې د هغې څنګ ته ولاړ و ، او کله -کله به یې د هغې خبرې موږ ته په خپله ژبه کولې وپوښتل: کاکا! دې ته خو تا زما د بې وسیو کیسه نه ده کړې ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه بریتونو لاندې موسکی شو او بیا یې وویل: دا نجلۍ وایي ، چې زه ډېر تاسف کوم ، ځومره ښایسته او تنکی زلمی دی ، خو افسوس ! چې پښه یې پرې شوه او په ځوانۍ کې له ډانسه محروم شو .

۱۵ -۵ -۷۸
کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ترهګر

چې څنګه چورلکو په کلي وزرونه راټیټ کړل ، له زړو برجونو کوترې داسې په هوا شوې ،لکه هغوی چې د سولې له منځه وړلو پسې راغلې وي .

شپه په شپه لړزونکو غړونو کلی خوځوه ، الوتکې به لکه وږي بازان په کلي غوټه شوې ، شپه وروسته به خړ کورونه اوشینکي باغونه لنبو په غېږ کې پټ کړل او څو سترې ارواګانې به هوا ته پورته شوې .

لږ وروسته چورلکې پناه شوې ، خلک په منډو وو ، یو شور جوړ وو ، تر دیوالونو لاندې بدنونه ښکارېدل ، لا به ترې خاورې لرې شوې نه وې ، چې زګېروي به غلي شول .

مورږ یو ماشوم ، چې وچه ډوډۍ یې هماغه شان په وړومنګولو کې ټینګه نیولې وه ، له لوټو راووېست ، لا مو ورته زنه تړلې نه وه ، چې دوه ځوانان په منډه انګړ ته راننوتل :

په یوه خوله یې غږ کړ : هغوی ټول نه شته ...

یو بل ته مو وکتلې ، یوه وویل: دوی لکه چې د ګلاب کورنۍ ښیي .

ګلاب کره ، له څو کلونو وروسته زوی شوی و ، د کلي خلک ورته غونډ شوي وو ، په منډه یې بې وره انګړ ته ، چې له خونو یې شنه لوګي پورته کېدل ور ننوتو .

ټولې خونې ړنګې وې ، تا به وې چا تازه قبرونه سپړلي ، ځای - ځای هډونه پراته وو ، تر ونې لاندې له غورځېدلې زانګو لوګي پورته کېدل ، یو تور شی په کې پروت و .

تر ماښامه مو لوټې واړولې را واړولې ، خو مکمل جسدونه مو پیدا نه کړل ، د ښځو او نرو د غوښو توپیر نه کېده .

د کلي ملا صیب وویل : د ا شهیدان دي ، کفن او غسل ته ضرورت نه لري ، ټول یوځای راټول او ښخ یې کړئ .

سهار وختي ، ټول همدې انګړ ته له قران شریفونو سره راټول شوو ، چې ختم نه خلاص شو ، یوه سپین ږیري غږ کړ :

په دې کاپرو اتبار نشته ، راډو چالان کړی ، بیا خوبه بمبار نه کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

له څو لنډو خبرونو وروسته ، يوه خبر کې زموږ دکلي نوم واخيستل شو ، ټول راډيو ته رانږدې شوو .
خبريال له يوه چاسره په همدې اړه خبرې کولې ،که څه هم موږ د هغه په خبرو نه پوهېدو ، خو د هغه لنډې - لنډې خبرې ترجمه کېدې .
هغه وويل: په دې کور کې يوه ډله ترهګر د جګړې د پلان لپاره راټول شوي وو ، زموږ استخباراتي سرچينو کشف کړل او مخکې له دې چې بريد وکړي الوتکو تباه کړل .
موږ کله يو بل او کله سوزېدلې ځانګو ته کتلې او راډيو هماغه شان چالانه وه .

کابل ، د ليندۍ پنځمه ١٣٨٥

يادښت :

دډغې کيسې ( غريب تنظيم ) سوژه راته په ١٣٦٨ کال کې پيداشوې وه ، خو هغه وخت ما لنډه کيسه نه پېژندله ، په ذهن کې مې وه او شاوخوا لس کاله وروسته مې وليکله .

په ١٣٨٣ کې رانه ورکه شوه ، دومره پرې خپه شوم لکه ډېر نږدې خپل چې له لاسه ورکړم ، خو اخر راسره ذهن ياري وکړه او له ورکېدو دوه کاله وروسته مې بيا له سره وليکله .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غریب تنظیم

هسې خو پاکستان ډېرې سرې او شنې سیمې هم لري ، خو ، چې زموږ مهاجرو په برخه وچ سپېره ډاګونه او سپېرې دښتې رسېدلې وې ، نو ، چې اوس هم څوک د هغه ملک نوم واخلي ، په زړه مو ګرمي را ننوځي .

زموږ مرکز ، په همدغه شان یوه سپېره دښته کې و. مخامخ د وچ خوړ په غاړه سپېره ونه ، چې تندې له قده غورځولې وه ، ولاړه وه . شاو خوا یې ګور او اغزن بوټي په ځمکه خلم پراته وو .
دښته ارامه وه ، کله نا کله به دڅو خړو مرغیو ، چې په هواکې به یې وزرونه رپول غږونه ، راغلل .
مرکز په لویه ختېنه کلا کې ،چې پر دیوالونو یې اغزن سیمان لګېدلي وو او لویه اوسپنیزه در وازه یې لرله ، جوړ و .
دې کلا ته به یواځې اسیزو(ISUZU ) لارۍ د مهماتو او وسلو وړلو راوړلو پسې راتلې او کله — کله به د امر صیب لنډ کروزر ، هم مرکز ته راننوت .
نن ، چې څنګه د مازیګر لمانځه نه خلاص شوو ، هملته په غوړېدلي پلاستیکي سترنجې راټول شوو .
یوه ، وویل : داڅو مه میاشت ده ، چې لکه لیوان په دښته کې پراته یوو ، خدای خبر !کورونو کې به مو څه حال وي ؟
بل غبږ کړ : بېماره میرمن مې ، کور کې له بوډا پلار سره پرېښې ده ، خدازده که څوک ورسره پور هم وکړي ، پردی ملک دی .
زما خواته ناست ملګری ، چې تر دې دمه غلی و ، خوله پرانېسته : په خبرو څه نه کېږي ، کمکی اختر خو همدلته تېرشو ، لوی ته شل ورځې پاتې دي ، دا وار ، چې امر صیب راغی ، په یوه خوله ترې تنخوا غواړو .
موږ لا همدې خبرو کې وو ، چې پیره دار لویه در وازه پرانېسته او دامر صیب تورو ښیښو والا لنډ کروزر را ننوت .

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لاس کې یې تسبیح وې ، د تسبو له دانو څخه یې شونډې ډېرې خوځېدې ، ټول ورته ودرېدو ، هغه د لاس په اشاره د کېناستو هیله وکړه او بیا یې وویل :

افرین ! جهاد همدا تاسو په څېر صابرو ، او حوصله ناکو ځوانانو ته اړتیا لري .

زه پوهېږم ، چې له څلورو میاشتو راهیسې مو تنخوا نه ده اخیستې ، خو څه وکړم ؟ تنظیم غریب دی .

که تاسو دې ارامه دښته کې حوصله ونه کړئ ، نو په سنګرونو کې به مجاهدین د ګولیو باران ته څنګه حوصله وکړي ؟؟

د امر صیب خبرو زموږ ټولې غوښتنې په خوله کې وچې کړې .

هغه د وسلو ډیپو ګانې وکتلې او بیایې سپېره دښته یواځې موږ ته پرېښوده .

×××××

ګرمي مخ په ډېرېدو وه ، بیرون سیوری نه و او په کوټو کې زړونو سستي کوله .

زموږ یو ملګري خو بالکل د ګرمۍ تاب نه لره ، کله ناکله به بېهوښه کېده هم .

نن شپه مو هغه ته په پکي وهلو تېره کړه ، لانده څادرونه به مو ورته په سر او پښو اېښود ل ، ټول ورخطا وو .

چې سهار چای ته راغونډ شوو ، یوه همدې ملګري ته لاس ونیو : دا کمبخت لکه چې ، مړشي . بل زیاته کړه : نن د امرصیب د راتګ ورځ ده ، چې راغی نوره ورسره خبره سپینه وو ، ډیپو کې ، پکي ، جنراتورونه او تیل شته ، که تنظیم تنخوا ورکولو ته غریب دی ، نو دومره خو کېږي چې موږ یو څو ساعته جنراتور چالان کړو .

د هارنډ غږ شو او بیا سمدلاسه دروازه په دواړو پټونو خلاصه شوه ، امرصیب مخ په موږ راغی ، غاښونو کې وچکی واهه ، چې نږدې شو وچکې یې وغورځو او تسبیح یې له جیبه را وه و یستې :

د خدای بختورو ! ستاسو په دسترخوان خو وچه ډوډۍ شته ، د مجاهدینو به څه حال وي ؟

داځل ترې زموږ یوه ملګري د خبرو تار ونیو :

امر صیب ! ګرمي ته طاقت نه کېږي ، جنراتور ، تیل او پکي شته ، یواځې ستا اجازه په کار ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه په ږيره لاس راتېر کړ : تاسو د حضرت بلال ( رض ) له کيسو خبر يئ ؟ هغه جليل قدر صحابي و ، کفارو به د عربستان په ګرمو شګو لنډغر خملاوه او بيابه يې درنه تېږه ورته په ګېډه کېښوده . خو هغه بياهم له خپلې مقدسې عقيدې وانه وښت .
نيکبختو ! دا دښته له ميدان بدره ګرمه نه ده او نه تراوسه تاسو د صحابه کرامو په څېر په ګېډو پسې ډبرې تړلي دي.
دا جهاد دی او هغه هم د شوروي په څېر سوپر پاور سره . که تاسې دومره نازولي شئ ، فکر نه کوم که دا مبارزه نتيجه ورکړي .
هغه په يوه ساه ، د کربلا واقعه او بيا د يزيد پر وړاندې د امام حسين ( رض ) او دهغه د ملګرو مقاومت ، د هغوی ولږې او تندې بيان کړې .
امرصيب ، د سورت انفال څو مبارک اياتونه تلاوت کړل او لا يې ترجمه خلاصه نه وه ، چې يوه ملګري چيغه کړه : زر کوئ قدوس مړ کېږي .
ټول د هغه اوسپنيز چپرکټ ته ودرېدو ، هغه سترګې درولې وې ، رنګ يې تک ژېړ اوښتی و او له بدنه يې تېونه پورته کېدل .
امر صيب ، زړه نازړه د هغه پر ټنده لاس کېښود او بيا ، چې موږ شور جوړ کړ نو ، وې ويل : هغه سره دوه درې کسان موټر ته وخېژئ !
موټر ته په ختلو راباندې خپلې خولې يخې ولګېدې ، قدوس هم سترګې وغوړولې ، ورو — ورو په کې رنګ و چلېد .
له دښتې ووتو ، د موټر درزا غلې شوه ، شيبه وروسته له عمومي سړکه په يوه نرۍ پخې لارې تاو شو .
در وازه بېرته شوه ، د در وازې خواته کوټې ته ننوتو : سره غالۍ په کې غوړېدلې وه ، پر توشکو او بالښتونو هم قالينې پرتې وې .
د مېز پر سر ، کوچينی جاپانی پکی اېښودل شوی و او له مخامخ دېواله سړه هوا را وتله .
امر صيب د څنګ ته ناست ميلمه پر اوږه لاس کېښود : خپله کوټه کې مې هم ايرکندېشن او پکی دواړه لګولي ، عجيبه عادت لرم ، کله مې دومره ګرمي ور خطا کړي ، چې دواړه چالان کړم او کله بيا يواځې پکي ته هم ګوزاره کوم .
هغه لا هماغه شان خپل عادتونه بيانول ، چې کورکې شور شو او د هلئ کوټې اور واخيست غږ راغی ، په منډه ووتو ، امرصيب د ننه لاړ او موږ د حجرې خواته تيار سئ ودرېدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې ځنګه مې ښې لاس ته وکتل ، سيمې جالۍ راتاوه ، وه او د غټې زراعتۍ غوا مخ ته پراته شنه واښه د پکي شمال خورول .

۱۳۸۵ ، د ليندۍ ۱٦ مه

کابل ، د زمانخان کلا

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کـــوڼ

چې ځنګه مې ور ببرته کړ او د خونې په دیواله مې ستر ګې ونښتې ، خو له مې پرې خلاصه کړه :

بابا! څه لټ د خدای یې ؟ دومره خو ناتوانه ، نه یې . له سهاره په دې یوه دیواله نښتی یې ، تر اوسه یې اخیر تمام نه دی . د کوټې له دیواله دې د برلین دیوال جوړ کړی ، بدبخته !

هغه یواځې د وره ببرته کولو په وخت کې سترګې را واړولې ، له دېواله د هغه مخ دېر په ختو لړل شوی و . ببرته یې مخ واړو ، د ګل مالې له مخه یې په لاس ختېه لرې کړه او بیا یې پر دیواله راکش کړه .

ما ور په ګړز سره پورې کړ او په زوره مې وویل :که تر مازیګره دې کار خلاص کړی نه و ، بیا راته په وره قدم کېنږدې .

که څه هم د هغه ګناه نه وه ، د دیوالونو پخځې کږې وږې او نا وارې وې . هغه کې هم پخوانی زورنه و پاتې ، سپین ږیری شوی و ، خو ماته هم د مزدورانو کمی نه و، هره ورځ به د وره مخ کې راته څو تنه د کار په تمه ولاړ وو .

او بل ما خپلې سپکې سپورې او هر څه اپلتې ځکه بې پروا ویلې ، چې هغه په کلي کې په کوڼا ماما مشهور و او د کوڼا ماما لقب هغه ته دومره شهرت ورکړی و ، چې اصلي نوم یې له خلکو هېر و .

کله —کله به مې ، چې دېر رد و بد ورته وویل او بیا ، چې به مې د هغه په سپینه تار —تار ږیره نظر ولګېد ، وبه شرمېدم ، ځکه زه دهغه مخ کې لوی شوی وم . خوبیا به مې له ځانه سره ویل : هسې هم کوڼ دی نه یې اوري .

×××

شپه مې پخواني کور کې تېره کړه او سهار وختي نوي کور ته لاړم . سیده د هماغې خونې په لور وخوځېدم . چې ځنګه ورنږدې شوم ، نو هغه له کوټې راووت ، په سره ګلداره دسمال یې ملا شخه تړلې وه او په ختو ککړ سطل یې لاس کې و .

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې زه يې وليدم سطل يې کېښود ، مخامخ خونې ته يې لاس ونيو ، سرمې ور دننه کړ ، ډېره ښه يې اخير کړې وه .

زړه مې وې راځه مننه ترې وکړه او پروني ښښنه ترې وغواړه ، خو دا کار راته د ځان سپکاوی ښکاره شو .

هغه زما سترګې خارلې او چې کله يې په کې د غوسې نښې ونه لېدې نو رنګ په کې وچلېد ، د شونډو له منځه يې ژېړ غاښونه ښکاره شول او بيا يې د ختو سطل پورته کړ .

هغه نن يو ساعت مخکې په کار پيل کړی و ، زه هم تر ډېره وخته ور سره ولاړ وم او د هغه کار مې کاته ، ښه په بېړه يې لاس خوځاوه .

د کونج ديوال يې نيمايي خلاص کړ ، ګل ماله يې کېښوده ، په ختو ککړ لاس يې جام له ګړې ډک او په سر يې را واړو .

غوښتل يې چې لږ ساه واخلي ، خو چې په ما يې سترګې ولګېدې ، چټک جګ شو او سطل يې بيا له ختو ډک کړ . زما سترګې لا هماغه شان په دېواله نښتې وې ، چې شاته مې درب شو او چې ځان ته مې وکتل ، نو جامې مې د ختو له خاپونو ډکې وې .

زر جګ شو او چې زما سپين کالي يې په ختو وليدل ، په رپاشو. ما بيا سترګې پرې راوه وېستې : په غضب ککړ شې! کوڼ خو خدای ( ج ) کړې ، په دې سترګو دې څه بلاو لګېده ؟ او بدبخته ! هغه هماغه شان رپېده .

ما وې دادی پوره نهه بجې دي ، زه کور ته ځم ، کالي بدلوم او ځان سره د غرمې ډوډۍ هم راوړم ، که تر هغه وخته اخېر خلاص نه و ، بيا ګيله ونه کړې .

کور ته راغلم ، کالي مې بدل کړل ، چای مې وڅښه او چې کله د ساعت ستن په دولسو درېدله نو ديګ بخار ، کاسې او ډوډۍ مې راواخيستل روان شوم ، موټر مې د کلا مخې ته ودراوه ، شيان مې راښکته کړل ، د انګړ د منځ په سوپه کې مې په اوار ګيلم کېښودل او بيا مخ په خونه غلی ــ غلی روان شوم :

هغه هماغه شان په بيړه لګيا و ، چې زما سيوری يې وليد ، مخ يې راواړو: ډېره خواري مې وکړه ، والله که مې دمه کړې وي ، دادی دوه لوېشتې ځای پاتې ، نور ختم دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماغږ ونه کړ ، زړه مې نرم شو او بېرته ووتم . دستر خوان مې وغوړاوه ، کاسه کې مې ډوډۍ ماته کړه ، هر څه مې برابر کړل ، ور نارې مې کړې : ماما! راځه پربېږده يې! هغه له کوټې غږ کړ: ښه ده بچی کار هم تمام شو.

دده غږ نه و ، سم توپان و ، د شرم خولې مې پر بدن راماتې شوې . هغه راووت ، له ملايې دسمال خلاص کړ او باندې لښتې کې د مخ او لاسونو په وينځلو لګيا شو.

ما ته خپلې تېرې سپکې سپورې يوه ـــ يوه رايادېده . دواړو په يوه کاسه شروع وکړه ، هغه وويل : بچی! تا به جلا خوړلې وه ، ما سره به مزه درنکړي ، مزدور سړی يم .

خو زما سترګو د پورته کتلو وس بايلولی و . ډوډۍ مې په څه خوارۍ وخوړه ، دسترخوان مې ټول کړ ، د هغه پياله مې له شنه چايه ډکه کړه ، زړه مې غټ کړ: ماما! ما پرون څومره په زوره خبرې کولې ، يوه دې هم وانه وربېده ، نن دې اول غږ واورېد او بيا له کوټې راووتې ؟

هغه ماته ځير ـــ ځير وکتلې ، په ږيره يې لاس تېر کړ ، موسکی شو او بيا يې سترګې اخوا دېخوا وګرځولې :

ګله ! زه کوڼ يم ، بايد کوڼ وه اوسم ، خو ستا پرونۍ خبره دروغ وه . زه خدای نه يم کوڼ کړی ، ما ... غلی شو.

د زړه درزا مې نوره هم زياته شوه ، ماوې که په ځمکه ننوتم ، خو کار شوی و.

ښه شېبه دواړه غلي وو ، ما بيا فکر په ځای کړ :

نو چا کوڼ کړې ؟ هغه بيا څو ځلې له نظره تېر کړم : چې نه مې پرېږدې نو غوږ شه :

کله چې له بدې ورځې ، ماته خپل کلي کې د ناستې ځای پاتې نه شو ، نو ستاسو کلي ته په کډه راغلم ، ما نه هر څه پاتې شول خو يواځينی شی ، چې راسره و زما غيرت و .

دې کلي کې مې ډېرې تر خې شپې تېرې کړې ، په لومړيو وختو کې ، چې به چا کار ته بوتلم ، چې سپکه خبره به مې ترې واورېده ، نو کار به مې پرځای پرېښود او ترې روان به شوم ، خو تر څو ؟ ماشومانو ډوډۍ غوښته ، ونه شوه ، اخر مې ځان کوڼ کړ ، تر څو خلک راته بې غيرته ونه وايي ، اوس له هماغه وخته راهيسې راته خلک کوڼ وايي .

کابل ۱۳۷۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځه دزی

د جلرېز د تکانې غر ، تورو ورېځو داسې پټ کړی و ، تابه ویل کومې کونډې خپل ماشوم تر پوړنې لاندې نیولی دی .

کلیوال ورخطا وو ، ټولو مخامخ غره ته کتل ، چا ویل که ورېځه همداسې وي ، نو د باران امکان دی او که باران وشو ، نو سیلابونه به بیا ، خونې رنګې کړي .

خو څوک په دې باور و ، چې توره ورېځه په پورته کېدو ده او بیا به د تېرو ورځو په څېر واوره پیل شي .

غرمه مهال ، د ورېځې له خېټې لکه سپینې مچۍ واوره ورېدل پیل شول .

ډېر ژر ، د جومات مخه د کلي له خلکو ، چې د حسن علي د پنځه دزي ټوپک په ننداره بوخت وو ، خالي شوه او د دعا په کولو نږدې حجرې ته ننوتل .

حسن علي له ډوډۍ خوړلو وروسته خپل ټوپک را واخیست ، د جیب دسمال یې پرې تېر کړ او بیا یې په خندا وویل : ماما ! دا هغه ټوپک نه دی ، چې اول به مو د خولې له خوا دارو ورغورځول ، بیا به لتو پسې ګرځېدو ، هغه به مو په څه خوارۍ د سیخ په زور ور تخته کړې ، پټاقۍ به پرې نصبه شوه او بیا به ډز ته اماده شو .

ماما ! دا د سترګو په رپ کې کار کوي ، له دې خبرې سره سم په حجره کې ناست کسان ، چې د ټوپک لیدلو لپاره راغلي وو ، حسن علي ته نږدې شول او دهغه ټوپک ته یې په ځیر — ځیر کتل .

حسن علي ، خپلې مخې ته ټوپک ودراوه او ګېټ یې ژر- ژر کشوه . له هر کش سره مرمۍ اخوا دېخوا غورځېدلې ، خلک حیران وو . حسن علي ، د ټوپک شا ژور راخلاص کړ او مرمۍ یې بېرته ځای پرځای کړې .

جعفر ، چې تر دې دمه یې ټوپک ته کتلې را وړاندې شو : څومره ځای پورې یې ګولۍ رسېږي ؟

حسن علي موسک شو او په اوږه یې ټپ ورکړ : څومره چې دې سترګې کار کوي .

مرتضی وویل : خیر ، دا چې سړي سره وي ، نو لیوان پرې نه شي راتلی ؟

هغه په غرور وویل : لیوان خو لا څه ، چې د غره زمریان نه شي راتلی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر تېر مازيګره ، د حسن علي د ماما په حجره کې د نوي پنځه ډزي ټوپک په صفتونو خبرې روانې وې .

واوره درېدلې وه ، حجره کې ناست کسان بيا د — جومات مخې ته راووتل ، حسن په ښي لاس کې ټوپک او په چپ لاس کې يې د آس قيضه نيولې وه ، د خلکو منځ ته د خداى پامانۍ په نيت راغی .

خو د کلي سپين ږيرو خوښه نه وه ، يوه وويل : ډېر ځنډ واوره ورېدلې ده ، داوخت د غرونو وږي ليوان لارو ته راکوزېږي ، هسې نه چې ... !

حسن علي خبره ور پرې کړه ، ټوپک يې له اوږې راښکته کړ ، پورته يې کړ : دا ټوپک او بيا يې آس ته وکتل : او دا اس ! د غرونو پړانګان خو دې راشي .

يو بل سپين ږيري وويل : ځوانه ! تور ماښام دی ، ترڅو کلي ته رسېږې ، نيمه شپه به وي ، تاته ليوان څه ښکاري ؟ او بيا هغه دا وخت ډله __ ډله ګرځي ، کوم يو به تررمۍ کې ژر وولې ؟

حسن علي ، بيا په خندا شو : بابا! ددې ټوپک له خولې سور اور بادېږي ، له ډز سره به يې ليوان څه ، چې ټول ځناور غرونه پرېږدي او بيا له همدې خبرې سره يې دآس قيضې ته ټکان ورکړ .

د آس له سومانو واورې بادېدلې او د سترګو په رپ کې له مخامخ غونډۍ پناه شو .

خلکو خپلو کې خبرې کولې ، چاويل : دا توره شپه ، په دې ژورو خوړونو کې له وږو ليوانو تېرېدل له امکانه لرې ده .

او چا بيا د هغه د ټوپک صفتونه کول . شېبه وروسته خلک يو- يو کورونو ته روان شول .

يوه سپين ږيري په تلو __ تلو کې وويل : حسن علي خپل آس او ټوپک ته ډېر غره دی ، خو خداى خبرکه روغ ورسېږي ، دا ليوان ماته معلوم دي .

بل وويل : بيداره اوسئ ! که ډزې مو واورېدې ، سبا ورپسې ورځو ، حتما به څه پېښه شوې وي .

لا خلک ويده شوي نه وو ، چې د ډز يو ډوب غږ راغی ، شېبه وروسته بل غږ وشو او بيا همداسې پنځه غږونه واورېدل شول .

د حسن علي ماما ورخطا له کوره ووت ، د کلي خلک يې راټول کړل ، ټولو وويل : اوس مو تګ ګټه نه لري ، هر څه چې شوي ، شوي ، سهار وختي به يې غم وخورو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

سهار وختي څو کليوال ځوانان له تورو او خپلو زړو ټوپکو سره په آسونو سپاره شول او د حسن علي د آس پلونه يې تعقيبول .

څو خوړونو څخه تېر شول او چې څنگه بل خوړ کې تاوېدل ، نو سره واوره ښکاره شوه .

ځوانانو ، قيضې را کش کړې ، په سپينه واوره سره ليکه غځېدلې وه او بيا د يوې تيږې څنگ ته سوری گېډه ليوه پروت و .

څو گامه وړاندې بل لېوه ، چې له وچلي يې ماغزه راوتلي و ، پروت و .

ښه وړاندې لاړل او چې څنگه د يوې لويې پرخې خواته ور نږدې شول ، يو وېرونکی اواز تر غوږو شو .

په آسونو سواره ځوانان ځای پرځای ودرېدل ، لېوه چې په گېډه يې گولۍ خوړلې وه ، تاو راتاو کېده او له درده يې چيغې وهلې . يوه ځوان دآس له سره په نښه کړ او غلی يې کړ .

نور هم وړاندې لاړل ، تور زين پر واورو پروت و ، ځلميان ورخطا له آسونو راښکته شول ، څو گامه اخوا سپين غټ — غټ هډونه ، چې لا پرې څه ناڅه غوښه پاتې وه ، اخوا دېخوا پراته وو .

د ټولو پښې سستې شوې ، يو ځوان نور هم مخکې لاړ او له يوې ناڅاپې چيغې سره سم ، پر واوره را پرېوت .

نورو ورمنډه کړه او ټولو پاتې پنځه دزي ټوپک او چرمي موزو ته ژړل .

کابل ، ۱۳۸٤

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سرې دايرې

په مدرسه کې مې دوهمه اونۍ په پوره کېدو وه ، خولا مې دزړه ملګرى نه و پيدا کړى . دا ځکه ، چې يو ازېتوب مې خوښ و ، غلى به چېرته نا ست وم ، کله به مې کتاب کوت او کله به په خپلو سوچونو کې ورک وم . ماته خپلې تنها يۍ او زموږ استاد ( شيخ ) ته زما دغه عادت خوند ورکاوه .

دجمعې مبارکه شپه وه ، دماسخوتن له لمانځه ورو سته په عربي دعاووکې چې په ( اللهم ) پيل کېدې ، دعراق ، فلسطين ، کشمير ، چېچنيا او افغانستان مجاهدينو برياليتوبونه وغوښتل شول .

د دعا له پاى ته رسېدو نه ورو سته ، لسو – لسو طالبانو په خپله نا سته داېرې جوړې کړې .

شيخ زموږ داېرې پلو راغى ، ټول ور پورته شو و . د هغه لکه چې زه يې ښکار وم ، سترګې يې را باندې نښلولې وې . يو حديث او دانفال سورت څو مبارک اياتونه يې تلا وت کړل او بيا يې په بيت المقدس کې صليبي جګړې او هغه مهال په مسلمانانو شوي ظلمونه ، داسرائيلو په ټانګونو د فلسطينيانو کورونه ورانول ، دعراق دابو غريب او د ګو انتا نامو زندانونو د نه اورېدو نکلونه شروع کړل ، لهجه يې ورو- ورو جدي کېده او له خولې پرته يې لا سونه هم په حرکت را غلل .

ټول غلي وو ، يو نا څاپه شيخ ته مخامخ نا ست ملګري په لوړ غږ دالله اکبر ناره پورته کړه او بيا ټول داسې جذبو پسې وا خيستو ، چې که امريکايي ته ورته سړى موهم ليدلى وى ، نو سر موپرې الو ځو .

شيخ ، زما پر او ږه لاس کېښود او څو شېبې يې را ته داسې کتلې ، چې په سترګو کې يې ما خپل مخ ليده . شېبه وروسته يې ، ګوتو ته فشار ورکړ او بيا دبارک الله په ويلو رانه روان شو .

نن شپه زه يوا ځې نه وم ، ټوله شپه کله په عراق ، کله په فلسطين او کله په افغانستان کې د امريکايي ځو اکونو مقابلې ته و لاړ وم ، خو دمقابلې توان مې نه لره . کله به مې وې را

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځه ! په يوه ټوپ کړه ، خو چې نتيجه به يې يوازې راته خپل مرګ ښکاره شو ، بېرته به غلی شو م .

په همدې چورتونو کې وم ، چې دالله اکبر سپېڅلې کلمې د جومات له لوړو منارو نه ، لکه سپينې کوترې په هو ا شوې .

نن ورځ مې ټوله دشيخ په انتظار کې تېره شوه ، ما سخوتن شيخ ، چې له سپينو پيڅو يې ټنډې پونډې ښکارېدې او د تسبو په اړولو يې شونډې خوځېدې ، زموږ خواته را غی .

خو دا ځل له کېناستو وړاندې يې ، له لاسه ونيولم او خپلې خونې ته يې ، چې د طالبانو له اتا قونو جلا جوړه شوې وه بوتلم .

دخونې په منځ کې ، شين جای نماز اوار و ، پر مخامخ ديوال د افغانستان نخچه ، چې په ډېرو برخو کې يې سرې دايرې وې ځړېدلې وه ، پر کوچينې ميز ، چې دکټ وړاندې ايښې و ، قرانکريم او څو عربي رسالې ايښودل شوې وې . دچای له پيالې سره يې درې خرما راته مخ ته کېښودې او بيايې دتېرې شپې کيسې راته داسې وکړې ، ماوې که هرڅه په خپلو سترګو وينم .

شيخ ودرېد ، نخچې ته يې لا س ونيو او بيا يې ووې : د دريم خليفه په وخت کې دلته داسلام مبارک دين را غلی ، خو اوس ... ژړيې بيا خبره پيل کړه : داسرې داېرې وينې ؟ دا د کفارو شتون ښيي او که تا غوندې ځوانان همداسې ارامه کېني نو ، ټوله نخچه به ترې ډکه شي .

دشيخ اتا ق ته تک ، زما دهرې شپې دکار يوه برخه وګرځېده . کتا ب لوستل رانه پاتې شول او له نورو خلکو نه کرکه مې هم له پخوا زياته شوه .

نن شپه يې چې اتاق ته لا ړم ، له چای څښلو وروسته را ته ښه نږدې کېناست او بيايې ووې : ما شاالله رښتياهم ، چې تا دا فاني دنيا ښه پېژندلې ده ، ډېره بې وفا او هيڅ مينه ورسره نه ده په کار . اصلي دخوند او رنګ دنيا بله ده ، څو مره چې ژر کېدای شي ورتګ په کار دی ، خو هلته خالي لا س ورتګ ګټه نه لري ، قرباني غواړي او هغه هم داسې قرباني چې ملا يکې يې جنازه پر او ږو وا خلي .

او بيايې دهغې دنيا داسې صفتونه بيان کړل ، چې زه يې په تېر شوي عمر پښېمانه کړم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

پس له دې ما هره شپه نا ليدلي جنتونه په خوب ليدل او هره ورځ يې دورتګ په لټه کې وم ، ځکه ما مور او پلا ر په وړکوالي کې له لا سه ورکړي وو ، مينه او نا ز مې نه پېژندل ، ډېر رټل شوی او ځو رو ل شو ی وم .

دا جمعه شپه ، شيخ له ما سخوتن لمانځه نه وروسته جذباتي تقرير وکړ او بيا دخبرو په منځ کې يې غږ کړ : څوک دخدای په لا ره کې قربانۍ ته حاضر دی ؟

نورو ګوتې پورته کړې او زه ټول پورته شو م . شيخ ته زما پورته کېدو خوند ورکړ او خپلې خونې ته يې بوتلم .

له اوږدو خبرو وروسته يې وويل: ايا ته حا ضر يې ، چې دځو ورځو ستړي ژوند په بدله کې دايمي او له خو نده ډک ژوند واخلې ؟

له ځايه پورته شوم ، ماوې کوم دی ؟

هغه موسک شو او بيا يې دالمارۍ له شاه نه يو بيک را واخيست ، تور واسکټ يې ترې را وويست ، د وا سکټ د ننه له يوې خوا شين او له بلې خوا سور لين را وتی و.

دلينونو له سرونو لکه ټيپي ګوتې پلسترونه راتاو وو ، شيخ خپل کميس وويست ، وا سکټ يې وا غو ست او بيايې پرې کميس وا غو ست ، دکميس له ګردنۍ يې دواړه لينونه را وويستل :

چې کله ټا کل شوي ځای ته ورغلې ، له لينونو به پلسترونه لرې کړې ، دو اړه به يوځای کړې او بيا به له يو ډز سره دا سې ځای کې ناست وې ، چې په خوب دې هم نه وي ليدلی .

ما ښه چل زده کړ ، خو ومې پوښتل : که لينونه کار ونه کړي ؟ وې خندل : تا يواځې نه لېږو ، بل نفر به درسره وي او بيا يې يوه وړه ا له ، چې خدازده دبشر دحقونو په کوم مدا فع ملک کې به جوړه شوې وه ؟ را وويسته او زياته يې کړه : هغه به دغه سره تکمه کېکا ږي او کار به وشي .

دا ځل يې راته دوه درې وړې رسالې چې په اردو ژبه ژباړل شوې وې راکړې ، په دې رسالو کې دهغو فلسطيني او عراقي تنکيو ځوانانو عکسونه وو ، چې ځانمرګي بريدونه يې کړي وو .

د دغو رسالو لوستلو او دعکسونو ليدلو زما جذبې نورې هم را وپارولې .

يو ه شپه له لمانځه مخکې ، دشيخ خونې ته لاړم ، رساله مې پرمېز ورته کېښوده : زه له دې ځوانانو کم نه يم ، ژر لا ره را ښيبه !

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه په دې خبره څو ځلې ما شاالله تکرار کړه ، او بیا یې یو بل ځوان سره مخ کړم .
په سبا له اوږده مزله وروسته ، چې ټول دغرونو منځ کې و ، یو نا شنا سیمې ته را ورسېدو ، له لرې دغه سیمه خړه او له تیږو ډکه وه ، خو داسې ځایونه په کې جوړ وو ، چې هیڅ ګومان پرې نه کېده . له دې سیمې به هر تیاره ماښام له هماغه ځوان سره را ښکته شوم ، شپه به مو بازار کې تېره کړه او بیابه په ښارکې په موټرسا یکل ګر ځېدو .
نن ورځ ډېر و نه ګرځېدو ، وختي هوټل ته راغلو ، له ډوډۍ وروسته پرېکړه وشوه ، چې باید په وخت ویده شم او سبا په جوړېدونکې غونډه کې خپله وظیفه سرته ورسوم .
واسکټ مې وا غوست ا و له هماغه ځوان سره دغونډې ځای ته لاړم ، ګڼه ګوڼه وه . یو — یو کل سری ، چې تورو عینکو یې سترګې پټې کړې وې ، ګوته په ماشه ولا ړ و .
دخلکو منځ ته ننوتم ، یوه لړزه را باندې را غله ، ورو مې پټو لاندې ، له لینونو پلسترونه لرې کړل . کله مې سترګو ته نالیدلي جنتونه راتلل او کله مې شاو خوا ځوانانو ، بوډاګانو او ماشو مانو ته کتلې ، حیران وم .
ښکلي ا و ښایسته جنتونه راته د دې تر خه ژوند په بدل کې ورو- ورو بدرنګه ښکارېدل او د دومره خلکو دوژنې په مقابل کې جنت ګټل راته یوقېمار ښکاره شو.

نه پو هېدم څه وکړم ، لینونه مې ببرته پټ کړل او په را وتو شوم ، په لرې ولاړ ملګري مې سترګې ونښتې ، را باندې پوه شو ، لا دخلکو له منځه را وتلی نه وم ، چې غړز شو ، له غړز سره چیغې شوې او زما له خولې همد اسې چیغه ووته ، چې د هوټل ټول مسا پر را باندې را تاوو شول .

کابل — ۱۳۸٤ د زمري ١٦ مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دمړي په جيب کې

چې ښنګه يې تابوت کلي ته ورساوه ، يوه ګونګوسه شوه ، هرچا خپل کارونه پرېښودل او د تابوت په لور يې را منډې کړې .

تابوت دخلکو په منځ کې پټ شو ، ټول ترې را تاو ، وو . يو دبل پر اوږو لاسونه اېښودل او دسر په ښورولو يې تابوت ته کتلې .

خپلو منځو کې خبرې پيل شوې :

چاويل : ښو مره په تمه وو ، موږ وې دا به خداى ډاکټر کړي ، ښار ته به دناروغانو له وړلو بې غمه شوو داخو يې .. .

چاوې : دا زړه و ، که تيږه ؟ ښنګه يې داسې چناري ځواني خاورې ايرې کړه .

بل غبرګ کړ : زموږ د ناروغانو به خداى مل شي ، زه يې بل ښه ته ځوربېږم : درې کاله يې دکوژدنې شوي وو ، خسر به يې همدا ويل ، تر ښو يې فاکولته خلاصه کړې نه وي واد ه نه ورکوم .اوس به ښه کړي ؟ دا ځوانيمرګ خو بل ورور هم نه لري .

پلا ريې چې تر دې دمه اوتر- اوتر کله تابوت او کله اسمان ته کتل ، دخلکو له منځه را ووت .

ټولو دهغه خولې ته کتلې . ښو کرته يې شونډې راټولې کړې خو دغږ پر ځاى به تر ې چيغه ووته .

ښه شېبه غلی و ، بيا يې وويل : ورونو! نن زمادځوى په ۱۷ کلنې خوارۍ خاورې واوښتې . زه نور هيڅوک نه لرم ، زوى مې رانه روان دى ، خو هغه زه يوازې نه پرېږدم ... نه ، نه ښنګه خاورو ته لاړ شي ، تاسې ووايئ ، دا د خاورو وړ دى ؟

خلکو يو بل ته حيران — حيران کتل خو ، له خولې اخ نه خوت .

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه نه لکه چې ، اصلي خبره هېره وه ، بيا يې سکوت مات کړ : وروڼو! په ډېره خوارۍ مې پرې سبق ويلی و ، لاس مې نه ور رسېده ، که له هر چانه يې پور کړی وي ، ورته ... هغه نور رانه خاورو ته ځي ....

پاتې خبره يې په چيغو کې ورکه شوه .

خلکو په يوه خوله ( زموږ له خوا بخشش دی ) ناره وکړه .

تابوت يې دځو شېبو له پاره انګړ ته دننه کړ ، دکلا دېوالونه چيغو داسې لړزول تا به وې بيا ، ب ٥٢ الوتکو تروريستانو پسې را خيستې او په ( سهوه ! ) کې يې دچاله کورنه لنبه پورته کړې ده .

خدای خبر امنيتي کسانو دهغه په وژلو کې کوم نوی تکتيک تمرين کړی و ؟ ټول تک شين اوښتی و ، له تابوت نه وينې څڅېدې .

په څه خوارۍ يې دمور او خويندو له منځ نه تابوت را ووېست او دجومات مخ ته يې کېښود .

ملا صيب ، د هغه په شنه اوښتي تندي لاس کېښود ، دهغه بې روحه شونډې داسې راټولې وې ، تابه وې دخپلې وژنې دعلت پوښتنه کوي .

ملا صيب ، ناستو کسانو ته مخ را واړو :

وروڼو ! که څه هم دا پاک شهيد دی ، ځوان و ، دعلم په لاره کې و ، خو داسې ښکاري چې دفعتا نه دی وژل شو ی ، و هل ټکول يې ډېر خوړلي ، کېدای شي خبرې يې کړې وي ، ښه به داوي چې غسل ورکړو.

تابوت يې غسل خانې ته وردننه کړ ، پلار يې په وينو سره کورتۍ او کالي ترې ووېستل ، د کميس له جيبه يې سوری کارت او سره کاغذونه راووېستل .

دکورتۍ په دننه جيب کې يې لاس ورښکته کړ ، جيبي کتا بچه يې لاسته راغله ، په منځ کې يې په وينولړلی د ليک پاکټ ايښی و ، له پاسه پرې ليکل شوي وو ، ( دخپل مهربان پلار په مطالعه )

لاسونه يې ولړزېدل : پلاردی درنه ځارشي زويه ! ديوال ته تکيه ودرېد ، په رېږدېدلو ګوتو يې پرانيست :

٧٨٦

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

ډېر مهربان پلار ، ګراني مور او ګرانو خویندو ته سلامونه ، وړاندې کوم .
زه تردې دمه روغ او جوړ یم . ( ددې جملې په لوستلو موسکۍ شو خو چې په غسل خانې یې نظر ولګېد له سترګو یې لکه دمحصلینو وینې اوښکې وبهېدې . )
زړه یې غټ کړ او بیا یې لو ستل پیل کړل :
ګرانه پلا ره !
ډېرې سختې دې تېرې کړې او لا تېروې یې ، خیر دی داد ی امتحانونه مو په شروع کېدو دي .
وخت کم پاتې ، که خدای کول ، ډېر ژر به له درانه بارنه خلاص شې ، ماهم بېځایه عمر نه دی تېر کړی ، ډېرې شپې مې رنې تېرې کړې دي .
رښتیا پلاره ! که سپین سترګی درته نه ښکارم نو یوه خبره کول غواړم او هغه داچې : که کله مې مور د خسر کورته لاړه نو زما ( ... ) ته دې ووایې چې ...
که هرڅومره یې کاغذ سترګوته نږدې کړ او سل څواري یې وکړې ، نوره جمله یې ونشوه لوستی . دجملې پاتې توري لکه د د همزنګ دسړک په څېر په وینو لړل شوي وو.

۱۳۸۲ ، ۸ ، ۲۹ کابل ، میرویس میدان

*یادښت :*

*په ۱۳۸۲ کال د روژې په مبارکه میاشت کې د کابل پوهنتون محصلینو د یوې مظاهرې په ترځ کې د ډوډۍ ، د ښه والي غوښتنه وکړه ، مظاهره وروسته په تاوتریخوالي واوښته او نږدې امنیتي ځواکونو پرې بې رحمانه ګولۍ وچلولې .*

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خانداني

يواځې دمخامخ ودانۍ په دويم پوړ کې به تر ډېره نا وخته رڼا وه ، له دې دوه پوړيزې ودانۍ
به تر نيمې شپې له خندا ګانو سره يو ځای دټوخيوغږونه راتلل . کله ناکله به ( د درېش ! )
قوي غږ هم په ورانو کوڅو کې تا و راتاو شو او بيا به سرو سکروټو په کنډرو ديوالونو خولې
خښې کړې .

زموږ خونې تياره وې ، خو دانګړ پرسر داسې سرې لنبې تېرو بېر کېدې ، لکه له لرې ، چې
په کوم اباد هېواد کې دشپې له خوا دلويې لارې ننداره کو ې .

کله به لنبې زموږ دکور له سره تېرې شوې ، دمخامخ غره پرڅوکه به ونښتې ، د غره تيږې به
له وېرې لکه واړه ماشو مان لاندې کلي ته په منډه شوې او کله به زموږ کورته په نيمه لاره
راپرېوتې .

په اولو شپو کې به دهرې لنبې له راپرېوتو سره ، دچيغو غږونه هم پورته شول ، خو ورو- ورو
دا غږونه ورک شول .

په دې کوڅه کې يواځې زموږ کور پاتې و او هغه هم د مخامخ دوه پوړېزې ودانۍ په تمه .
دلته امنيتي پوسته وه ، هغې ته به مو وخت ناوخت ډوډۍ او چرس لېږل او خپل کور مو
پرې ساته .

کور مو نوی جوړ کړی و او هغه هم دکلي دځمکې دخرڅون په بيه ، پرېښودل يې راته ګران
و او دلته چې به چا کله کور پرېښود ، په هماغه وخت به يې مخ ته غټ موټر ودرېدل ،
در وازې ، کړکۍ او حتې دديوالونو سيخان اودبرېښنا لينونه به يې هم ترې بار کړل .

نن شپه ، سر ماښام نه داسې پرله پسې ډزې پيل شوې وې ، چې له څمڅې راوتل ګران و ،
ټول په همدې وړه څمڅه کې چې دجګړو له ويرې مو په انګړ کې جوړه کړې وه راټول وو .
دماشومانو په غوږونو مو لا سونه ايښي و و ، کله به له غږز سره سپينه رڼاشو ه ، چيغې به
شوې ، خو ډېر ژر به بېرته تياره شوه .

تېر ماسخوتن ډزې غلې شوې ، راووتو ، دلوګيو او بارودو بويونو مو دماغونه سوزول ، چوپه
چوپتياوه ، دکوڅې سپيان چې تر دې دمه جګړه ماروته ګوته په غاښ وو ، په غپايې چوپتيا
ماته کړه .

کوټې ته ننوتو ، د کړکيو پلاستيکونه شلېدلي وو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ور له خپل درشل نه وتلی و ، د درواز مخوته خاورې پرتې وې او ماشو مان له سرو اوار رپېدل .
مورمې ژر ډوډۍ تیاره کړه ، کوچنیانو وخوړه او په برستنو ننوتل ، چې مور ته یې کله تیاروله ، نو له نړدې پوستې دخندا داسې غږونه راغلل ، لکه تېرې ډزې چې د واده د ورا وې .

مور دالیکن په تته رڼاکې ، دیوبل سپېرو مخونو ته وکتل ، خو هیڅا سره ځواب نه و .
شپه وروسته کوخه کې دپښو دربهار شو ، لامو ډوډۍ نیمایي ته رسولې نه وه ، چې دربهار بام ته وخوت او د پښو له دربا سره ټکاری هم شروع شو .
ټولوتیاره چت ته سترګې نېولې وې ، یودم مې ورور سر ټيټ کړ ، پرسترګویې لاسونه کېښودل اوپزه یې کش کړه .
شپه وروسته ، په کاسه کې خاورې تویه شوې ، حیران وو ، الیکن مو ورجګ کړ ، پرسرېې خاورې ورتویه شوې ، نږدې و چې ګل شي او بیا سمدلاسه چت نه رڼاښکاره شوه .
ورور مې په منډه برندې ته ووت ، غږیې کړ : څوک یې ؟ په غبرګواوازونو دخندا غږ راغی ، خاوره هماغه شان توېدله .
له ګېټ وهلو سره یوځای په قهر وویل شول : دچاپه کار کې څه کار لرې ؟ په ژوند په تنګ یې ؟
ورور مې بلې خبرې ته خوله جوړوله ، چې مورمې راکش کړ او په خوله یې ورته لاس کېښود .
یوتن راټوپ کړ ، مورته یې راته دټوپک میله ونیوله ، ټېله یې کړه اوبیا یې وویل : ددې سپین سرې ازار نه وبرېږم که نه ... ولا حوله ولا... شیطانه کور دې وران شه ...
اوبیایې زیاته کړه : تاسو دا خندا ګانې وانه ورېدې ، زموږ قو ماندان صیب نن شپه ستاسو د پوستې قوماندان په قېمار کې دپولۍ ترق ته کېناو ، غریب ته هیڅ پاتې نه شول.
ډېر عذر او زارۍ یې وکړې ، اخر د قوماندان صیب زړه نرم شو ، خانداني سړی دی او یواځې ستاسو دکور په دستکو کړکیو او دروازو رضاشو .

کابل ، دقرغې بلاکونه ۱۳۸۳ — دوړي ۲۰ مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بې تصويره

په ټول ښـونځي کې پـه انګرېز مشـهور و ، پـه اولـه کې دا نـوم پرې مـوږ ايښـی و ، وروسـته دومره په خولو وګرځېد ، چې حتی يو نيم ښونکي به هم د حاضرۍ اخيستلو پر مهال د ( نور ) په ځای د انګرېز نوم اخيست .

نـور ، بـه تـل ځـان سـره ټـولګي تـه ډيکشـنري ، د انګليسـي ګرامـر کتابونـه ، ډول ــ ډول اخبارونه او مجلې را وړلې او ، چې کله به کوم ساعت خالي و ، نو د ټولو غوږونه به يې پرې وخوړل .

نـن ، چې ځنګه د تـاريخ ښـونکی لـه ټـولګي ووت ، نـور د تختې مخ تـه ودرېـد ، تختـه يـې وډبوله : که غوږ نيسئ ، ترڅو بل استاد راځي ، اول به درته ننني درس په انګليسي ترجمه کړم او بيا به درته د شپې خبرونه .

يوه غبر کړ : سمه ده انګرېزه ! شروع يې کړه

بل ووې : خپل منتر مه پخوه .

شېبه اوه هلکان ووتل ، نور ټول ورته کېناستو .

د تـاريخ درس يـې ټـول پـه انګليسي تکرار کړ او بيايې د تېرې شپې د بي بي سي لنډ ـــ لنډ خبرونه هم وويل .

چې ځنګه يې خبرونه خلاص کړل ، استاد راننوت ، دی ژر پر ځوکۍ کېناست ، خو استاد ، چې هر څه يې اورېدلي وو ، هغه يې بېرته را پاڅو.

استاد ، لومړی د انګليسي ژبې په ارزښت خبرې وکړې او بيا يې نور ته مخ واړو :

ګوره نوره ! که ته خپله علاقه همداسې وساتې او لوړې زدکړې هم په همدې ژبه کې وکړې يو وخت به خپل ولس ته ډېر خدمتونه وکړي .

د دنيا ټول علوم په انګريزي کې دي ، که ته يې خپلې ژبې ته را وژباړې داځومره لوی کار دی .

زمـوږ سـترګې همـدا تاسـو غونـدې ځوانـانو تـه اوړي ،ور ځ پـه ورځ کمـزوري کېـږو ، همـدا تاسـو ياست ، چې زموږ ځای به نيسئ .

×××

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې کله له دولسم ټولګي نه فارغ شوو ، بیا مو یوبل سره ونه لېدل ، زه خو داسې خوارۍ او مزدورۍ پسې ورک شوم ، چې عالي تحصیلاتو ته هیڅ وزګار نه شوم .

یوه ورځ یوه چوک کې د کار موندنې لپاره ولاړ وم ، چې کله به کوم واړه موټر هسې هم زموږ خواته بریک ونیو ، مزدورانو کې به ورک شو او چې کله به د کومو پاکو جامو سړی زموږ خواته رانږدې شو ، ټول به ترې راتاوو ، شو ، هغه به په څه خوارۍ رانه ځان خلاص کړ او بیا به موږ بېرته خپلو ځایونو کې و درېدو .

په چوک کې مزدوران ورو- ورو کم شول ، طالع مندیوبل سره کار ته لاړل او نور بېرته خپلو ځایونو ته ستانه شول .

پوره لس بجې شوې ، ماته هم کار پېدانه شو ، د اسمان شین مخ یو ناڅاپه وریځو خړ کړ او بیا سمدستي څاڅکي شروع شول .

څادر مې له ځانه را تاو کړ ، ورو__ ورو وخوځېدم ، مانه څوګامه لرې یو بل سړی پټو کې تاو ولاړ و ، څاڅکي تېز شول ، دی مخ په ما را روان شو ، و درېدم ، ما لا سم ذهن ته راوستی نه و ، چې پر اوږه یې راته لا س کېښود ، : هلکه ! دلته څه کړې ، ماژر غېږ ور خلاصه کړه : انګرېزه ! په خېر ، په خندا شو ، وې لادې هېر نه یم ؟

دواړه روان شوو ، هغه ویل : ماله دولسم ټولګي وروسته ، په خپله خوښه د انګلیسي ادبیات ولوستل .

— ښه نو اوس ښه پوخ انګریز شوې .

— تراوسه دې شوخي نه ده ورکه شوې ؟

— ښه نو اوس دلته څه کوې ؟

— ټول استادان راته وایي ، چې ماسټري واخله ، اول نمره فارغ شوی یې.

— ښه نو ، د مزدورانو چوک کې یې اخلې ؟

— له خندا وروسته یې اسوېلی وکړ ، راځه لانده خیشته شوو ، دوکان کې به کېنو هرڅه به درتهووایم .

زموږ په ورتګ لومړی دوکاندار خوشحاله شو ، خو چې سودا مو ترې وانه خیسته ، زړه یې تنګ شو ، موږ لا خبرو کې وو ، چې په تند غږ یې وویل : ګټ اوټ ( Get Out ! )

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دکاندار څنګ ته ناست ځوان ، چې په کيڼ لاس کې يې تور بنګړی چې په اسانه يې د لاس له پوټکي سره توپير نه کېده اچولی و ، د سګرټ له لوګي سره يې يوځای له شونډو خندا را ووته ، ښه په کرس يې وخندل او بيا يې وويل : سيټ صاب ، د امزدوران په انګريزۍ څه پوهېږئ ؟

سور بانګس لرګی يې ور وړاندې کړ ، په دې يې پوه کړه .

موړ يو بل ته وکتلې او بيا له دوکانه راووتو .

باران دربدلی و ، لا له سړکه تېر شوي نه وو ، چې يوه کوچنی سوزوکي کار مو مخې ته ودرېد ، يو چا له ښيښې لا س را ووېست ، ورمنډه مو کړه .

هغه وويل : چوک کې مې مزدوران پيدا نه کړل ، تاسو کار نه کوئ ؟

لا يې بله خبره کړې نه وه ، چې موټر ته ختلي وو .

هغه وويل : اول دغه ماتې او روغې خښتې سره جلا کړئ او بيا داشګه کورته ننه باسئ .

لاسي کراچۍ او بېلچې يې راکړې او لاړ .

د سترګو په رپ کې له خښتو وزګار شوو ، اوله ريړۍ (کراچۍ ) مو له شګو ډکه کړې وه ، چې دی بيا راغی ، داخل ورسره د ۱۲ _۱۳ کالو په عمر ماشوم هم و .

دی يواځې له موټره راښکته شو ، د چايو ترموز يې له دوه وړو پيالو او قابونو سره راوړ .

يوه –يوه خړبخونه مايع مو ، چې نه پوره چای و او نه شېدې ، وڅښلې او بيا مو کار پيل کړ .

هغه خپل زوی ته ، چې تراوسه يې د موټر له ښيښې څخه موږ ته کتلې غږ کړ : ساجد! او بيايې ورته د چای د لوښو وړلو امر وکړ .

ماشوم ، جي ډې ډي ، وويل او بيا له موټره راکوز شو . کتاب يې سترګو ته نيولی و ، ورو- ورو را روان شو ، د کتاب پر پښتۍ په انګليسي تورو غټ څه ليکل شوي وو ، څنګ ته مو ودرېد ، کتاب يې له سترګو لرې کړ ، په يوه لاس کې کتاب او په بل لاس يې د مخې وېښتان شاته واړول.

د نور سترګې په کتاب ولګېدې ، بېلچه يې کېښوده ، ور وړاندې شو ، خو هغه يواځې دکتاب پوښ ور وښود او بيايې وويل :

ساري ، خان صيب ! دا د انګريزۍ کتاب دی ، تصويرونه په کې نشته .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۳۷۹ ، د لړم ۱۲ مه
کابل ، کارته اریانا

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سره لوپټه

موټر وان شېبه په شېبه له خريلي مخ نه په دستمال خولې وچولې او چې کله به يې لاس وزګار شو ، نو په مخامخ لګېدلي بټن به يې ګوته ټينګه کړه ، له هارنډ سره يوځاى به يې ځاى پرځاى موټر وغراوو او له دې سره به کلينر ، نارې کړې :
بارو بار ، روان ګاډى ، شبقدر له ، ډېرى له ، ناګمان له ، هلئ شابئ...
ځو ځلې ورپورته شوم ، خو چې ګرمي به پسې واخېستم ، بېرته به راکوز شوم .
داځل کلينر ، ځو تنه په کشولو تر بس ( موټر ) را ورسول .
ماوې هسې نه ، په دې سره ګرمۍ کې رانه ښيښې خواته ځاى ځوک ونيسي ، له هغوى مخکې شوم او پرځوکۍ کېناستم .
دسګرټ دلوګي له امله مې له ښيښې سر وېستلى و ، چې پر اوږه مې لاس کېښودل شو او بيا سمدلاسه يې وويل : په ګاډي کې راله ميرات مړى ولتى راځي ، دادښيښې خوا راله پرېږده .
دهغه د وچلي په ګونځو کې خولې تاوېدې راتاوېدې ، مهين سپين کالي يې ، په ټټر ټينګ نښتي وو او شيبه په شېبه يې د خولې له لارې ساه اخيسته .
ځاى مې ور پرېښود ، موټر ورو- ورو له چارسدې اډې ووت او لارې ته سيخ شو .
شمال دسپين رېږي خولې وچې کړې ، رنګ په کې وغوړېد او بيايې مخ را واړو :
ايمان دې نصيب شه ځوانه ! که ځاى دې راکړى نه واى ، بېړه مې غرقه وه او بيا يې دخبرو تار پسې وغځاو : پخوا دا لارې بسونه نه وو. ښه مې ياد شي ، چې پلار سره به ښارېې ته ټنګه کې راتلم ، په ساعتونو مزلې به مو کولې .
خو يره ! رښتيا ،چې داسونو غوړږو کې دجنت هوا لګي ، نه به مې زړه خرابېده او نه به ستومانه کېدم .
هغه مهال دومره ګرځېدل هم نه وو ، په مياشتو مياشتو به له کلي نه وتو .
نن سبا خو زموږ ماشومان هر ورځ کلي نه ښار ته ، سکولونو ته راځي .
دهغه وخت سفر کې که داکسيډنټ خطره نه وه ، خو نورې بلا خطرې وې .
لاره کې به ځناور و ، شوکې به وې او...

(c) ketabton.com: The Digital Library

بله خبره یې لا پیل کړې نه وه ، چې داسې غلی شو ، تا به وې ژبه یې ودرېده ، دواړه لاسونه یې په سترګو کېښودل او بیا یې سر ښکته واچو .
موټر دګڼه ګوڼې له امله د ناګمان پر پله ورو ـــ ورو روان و ، لاندې اوبه په مستۍ وې او د سرې هوا لورینه یې کوله .
له هغې خوا نور موټر راغلل او زموږ بس څه شېبه دپله پرسر ولاړ پاتې شو .
ماکله دسیند له مستو څپو ، چې یوبل کې ورکېدې ، خوند اخیست او کله به دسپین ږیري چوپتیا د حیرانتیا په څپو لاهو کړم .
هغه هماغه شان غلی و ، ماهم پوښتنې ته زړه نه ښه کاوو .
شیبه ورو سته موټر له پله تېر شو او بیا له لږ ځنډ وروسته هغه سر راجګ کړ ، غوږو کې یې ګوتې کېښودې : توبه ، خدایه توبه .
د پوښتنې جرئت راته پیداشو :
بابا ! څه درباندې وشول ؟

— هغه ساه واخیسته : دهمدغه سیند له غمه خو ښارته زړه نه ښه کوم .
— ولې ، سیند کې څه خبره ده ؟ له دې وړاندې خو هم پر سیند راتېر شو و .
— په ننوتلو سترګو کې اوښکې وځلېدې ، لستونې پرې راتېر کړ او بیا یې وویل :
— ځوانه ! داسې مې یاد شي ، لکه پرون ورځ . د لس دولسو کالو په منګ به وم ، له پلار او څو نورو کلیوالو سره ښارته راتلم ، داپول هغه مهال دلرګیو و ، اوبه همدغه شان مستې او په څپو وې . موږ نه لږ وړاندې دوه ډلې یوبل ته مخامخ ولاړې وې او په خپلو کې سره غرېدل .
یوه تن څنګ ته ولاړې نجلۍ ته ، چې سره لوپټه کې لکه جنده رپېدله ، لاس ونیو :
دادی ، مال مو درته وسپاره ، حساب خلاصوه .
هغه د روپو وړه غوټه ورکړه ، ده لا شمېرلې نه وې ، چې یوه غر کړ : هلئ ، چې وتښتېده !
له دې خبرې سره سم ورپسې دچاړو په لاس ډله جوړه شوه .
ډېر غږونه یې پرې وکړل خو د نر لور ونه درېده .
د پله سرته راورسېده او بیا ترڅو دوی ور رسېدل ، هغې له یوې چیغې سره ور ودانګل .
څو ځلې اوبو سرته کړه ، بېرته به پرې واوښتې . موږ دسیند په غاړه منډې شروع کړې .

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو نور مو يواځې دهغې سره لوپټه ليده ، چې دماتې ببړۍ په شان اوبو پټه او ښکاره په مخه کړې وه .

کابل ، ميرويس ميدان
۱۳۸۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د دښتې په منځ کې

له راتګ سره یې ټول هک پک په خپلو ځایونو ودرېدل . د ټولو سترګې دهغه په مخ و نښتې .

ده هم ، شېبه په شېبه هریو له نظره تېراوه ، دانګړ په منځ کې د تېرې شوې ویالې له غاړې میانه قدې ښځې دیګې او کاسې د صابون له ځګه ډکې پرېښودې ، لښتي کې لاسونه کنګال کړل او دده په لور را روانه شوه .

د هلک په سترګو کې اوښکې وځلېدې ، غږ یې کړ : مورې ! هغه دوه ګامه وروسته شوه ، ده بیا ورنارې کړې ، هغه نوره هم شاته لاړه ، دکوټې دیواله ته تکیه شوه :

زه ، مور ! دچا مور ؟ نه ، زه خپل بچي پېژنم ، هغه ټول دادی ولاړ دي او دا ....!

بیا یې هماغه اواز له غوږونو تېر شو . خپلو ولاړو بچیانو ته یې وکتل : زه د دوی موریم ، او داغږ د دوی له خولو نه راوځي .. بانه یې سره ورغلل :

په یاد مې شو ، زه دبل چا مور هم یم ، خو هغه له دولسو کلونو راهیسې نادرکه دی ، دنیامې ورپسې چاڼ کړه ، خدای خبر دحیات الله هډوکو به کومو سپېرو خاورو خوړلي وي ؟

دې لا ترخو بله خبره زړه کې نه وه تېره کړې چې ، هغه غږ کړ : زه حیات الله یم ، ستا زوی ..

هغه نوره هم حیرانه شوه ، لکه له یوې اروا سره چې غږېږي ، خو حیات الله رانږدې شو او بیا یې هماغه ناره وکړه .

اواره رپېدله ، دهغه دکوچینوالي ګڼ تصویرونه یې ، یو په بل پسې د زړه له سترګو تېر شول .

حیات الله نورهم رانږدې شو ، په ژړایې وویل : خو زه ستازوی یم کنه ؟

چې ځنګه یې خوله بېرته شوه ، سترګې پرې شکمنې شوې ، غبړه یې ور خلاصه کړه ، هغه هم دواړه لاسونه د مور غاړه کې واچول ، ښه شېبه دواړو په چیغو- چیغو وژړل ، ښکل یې کړ او بیایې د ټیکري په پېڅکه سترګې ور وچې کړې .

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر ونې لاندې کټ کې کښېنا و او خپله ورته مخامخ په ځمکه کېناسته : کله چې به ستا د پوښتنې لپاره چېره تلم ، ټولو به راته ليونۍ ويلې ، او پټ - پټ به يې ډول -ډول خبرې کولې .

د هغه د ښو ځوکو ته اوښکې راغلې ، لاس يې پرې را تېر کړ او بيا يې ښه شېبه پاس د ونې ګورو ښاخونو ته وکتل.

ورونه ، خوېندې او خپلوان ترې راتاو وو ، دی هماغه شان حيران کټ کې ناست و او کله کله به يې د سترګو لاندې يو بل ته کتل . ډېرې ځېرې ورته نوې وې ، مور يې بيا ورغږ کړ: ښه نو ،چې ژوندی وې دا دولس کاله دې مورږ نه يادېدو ؟ زموږ خو درپسې د سترګو تور سپين شو ، اخرولې ؟
د هلک ستونی ډک شو او له لږ ځنډه وروسته يې ، د ژړا له بدرګې سره ووې : موږ د داسې دښتې په منځ کې نه وو ، چې ... نوره خبره يې په ژړاکې ورکه شوه .

ناست کسان نو ر هم کټ ته وځښېدل ، ټولو د ده خولې ته کتلې . ښه شېبه غلی و ، سترګې يې راپورته کړې ، اخوا دېخوا يې وکتل او بيا يې د مور مخ ته سترګې برابرې کړې :
کله چې دوم ځل ، له کوره مدرسې ته تلم ، په ( شبقدر ډېرۍ ) کې سروېس ته انتظار وم ، په همدې وخت کې يوه سپينه والګا مې تر څنګ ودرېده ، يو چاغ برېتور سړی ، چې په سپينو کاليو يې تور واسکټ اغوستی و راکوز شو ، له جېبه يې څه راوښکل ، ما لا ورته سم کتلې نه و چې ، مخ ته يې راوړاندې کړ او بيا نور په ځان نه يم پوه شوی.
خدای خبر ! څومره وخت به وتلی و ، خو چې کله په هوښ شوم په سترګو مې تررمۍ وه ، څومره چې مې پرانېستې څه مې ونه ليدل ، پوه شوم چې پلستر شوې وې ، په زړه مې سره هوا راننوته ، د سړي خورو کيسې را په زړه شوې ، لاړې مې خوله کې وچې شوې ، څومره چې مې کوښښ کاوه خبره رانه ، نه وته ، لږ وروسته مې فکر په ځای کړ ، په زاريو مې پيل وکړ.
خو غږ مې چا نه اورېده ، چيغه مې کړه او له چيغې سره سم مې له مخ شړق پورته شو او بيا يې راته خوله په يوه شي وتړله .
پس له دې مې يواځې د موټر هارندېونه او کله ناکله د خلکو غږونه اورېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورو- ورو دا غړونه هم ورک شول ، صرف د خپل موټر د ماشین شور و. د موټر ګړبهار وار په وار زیاتېده. څلور پنځه ساعته مزله نه وروسته موټر ودرېد ، د دروازې له ګړپ سره انګړ ته ننوتو ، ور پورې شو. له سترګو او خولې یې راته پلسترونه لرې کړل ، اوبه یې راکړې ، شاوخوا مې سترګې وغړولې ، اول خو مې په سترګو تیاره وه او بیا چې ښې شوې نو یواځې جګ- جګ دېوالونه ، چې پر سر یې اغزن سیمونه تېر وه ، راښکاره شول .

د انګړ قبلې خوا ته درې لویې او کیڼ خواته یوه وړه کوټه وه ، ماته یې د لاس په اشاره د کوټو خواته د تلو امر وکړ ، دی خپله ووت او دروازه له باندې خوا نه وتړل شوه .

زړه نا زړه مخامخ کوټې ته لاړم ، هلته درې وړې نجونې او پنځه زما په عمر او یا لږ واړه هلکان وو ، مخ ته یې کپسولونه خرې و او دېخوا دوه وړې - وړې رشې ولاړې وې .

یو ځای یې کپسولونه خالي کول او له بل ځایه یې ډکول ، زما په لیدو یې له لاسونو کپسولونه وغورځېدل ، راپورته شول . ټولو راکتلې ، خو زه یواځې د یوې نجلۍ او دوه هلکانو په ژبه پوهېدم ، زه حیران ولاړ وم او دوی ته مې کتل ، همدې وخت کې یو هلک چې له ماهم ووړ و ، راپورته شو ، څنګ ته مې راغی ، غلی کېناست ، سترګې یې سرې شوې او بیا یې چیغه کړه. نورو غلی کړ ، د چا په ژبو چې پوهېدم ، هغو کیسې پیل کړې ، چا وې زما کال وشو ، چاوې زما دا دویم کال دی او هغه چې ژړل یې د هغه دا اوله جمعه وه ، د هغه اوښکې هماغه شان روانې وې ، سلګۍ یې وهلې موږ هم ښه وژړل.
ماز یګرمهال بیا د دروازې غږ شو ، موږ ژر په کار پیل وکړ ، دوه ، درې کسان چې له خولې یې لوګي جګېدل له خو کارتنونو سره راننوتل ، زموږ کوټې ته راغلل او د مخامخ هلک له مخه یې د څپېړې شړق پورته کړ : تر اوسه مو دومره کار کړی ؟؟
او بیا یې له یوې مخې د ټولو مخونه په څپېړو تک شنه کړل. سترګې یې برګې کړې: ګورئ ! که دا کارټنې مو تر سبا خلاصې کړې نه وې ، سرونه درنه کټ کوم! ظالمانو دا خو موڅه د پلار کور نه دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

مورې په دې لوی انګړ کې پرته له پاس شنه اسمانه او د کلا له خړو دېوالونو ، نور څه نه لیدل او بې له خپلو ژړاګانو مو نور د هېڅ شي غږ نه اورېده.

لا جمعه وتلې نه وه ، چې یوه نجلۍ او درې نور هلکان یې راوستل ، نجلۍ ډېر ژړلې ، کوټه کې یې واچوله ، وریې ورپسې وتاړه ، درې څلور ساعته وروسته یې راووېسته ، ژړایې غلې شوې وه ، خو له سترګو یې لا هماغه شان اوښکې روانې وې .

اوله شپه یې وه ، ویده شوه ، شېبه وروسته مې ورو ګونګوسه تر غوږ شوه ، ورنږدې شوم ، سم یې په خبره نه پوهېدم ، یو ناڅاپه یې د مورجانې غږ په زوره له خولې وواته او بیا یې چیغه کړه . ټول په خپلو ځایونو کېناستو ، رڼا مو بله کړه ، ټول ترې راتاؤ شو.

موري! دا وخت ماته ، هم رایاده شوې ښه په زوره - زوره مو وژړل .

- مور دې درنه ځار شي زویه !کیسه کوه .

هغه د اوبو له جامه دوه درې غړپه وکړل ، په خوله یې لاس راتېر کړ او بیا یې شروع وکړه:

هغه شپه مو ړنه تېره کړه ، سبا مو بیا وختي په کار پیل وکړ ، وختونه تېرېدل ، مورې به هملته ځای په ځای ناست وو ، له کپسولونو به مو دوا خالي کوله او له پوډرو به مو ډکول.

دوی به یوه شپه بله شپه وچه ډوډۍ ، سودا او هم د کپسولونو کارتنونه راوړل او له دې ځایه به یې له پوډرو ډک کپسولونه وړل.

نجونو به هم مورې سره کار کاوه او هم به خوارانو دېګ کاوه ، ډېرکلونه تېر شول ، ړیرې مو راغلې ، خو د باندې ځای مو ونه لید.

یوه ورځ یې زمورې له ملګرو نه یو هلک او دوه نجونې چې له څو ورځو ناروغه وې ووېستې .

بله ورځ ټوپک په غاړه سړی راننوت ، یو ګام راوړاندې شو او په غوسه یې ووې: ګورئ ! هغو کارنه کاوه ، سرونه مو پرې کټ کړل اوس به یې په هډونو سپیان خولې ګرځوي ، که تاسو کار ونکړئ ، د تاسو سرونه هم کټ کوم .

مورې ټول له ډوډۍ پورته شو او د کپسولونو په کارتنو ونښتو. هغه په کړس وخندل: ډوډۍ خورئ خو کار درنه پاتې نشي .

دا وار ، چې ماز یګر مهال ور بېرته شو او موټر د انګړ منځ ته راننوت ، زه تیار له کوټې د باندې راوتلی وم . ور څنګه ورغلم ، له موټره یوه چاغه ښځه چې ښۍ اوږه کې یې توره چرمي بکسه ځوړنده وه ، راکوزه شوه ، ورپسې هماغه سړی چې په مورې به ګرځېده د ښي لاس ګوته کې تمانچه تاووله راکوز شو. ښځه مخ په ما راغله ، زه هم ورنږدې شوم ، بې اختیاره مې وژړل

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بیا مې ورته په ژړا-ژړا کې ووې : ګورئ! تاسو هم بچیان لرئ ، زما دا دولسم کال دی ، اخر زه هم انسان یم ، واړه - واړه وروڼه خوېندې لرم ، مور پلار لرم د خدای ( ج ) لپاره !
هغې ښه شېبه ما ته کتلې خو زما سترګې نه وچېدې ، رانږدې شوه ، پر سریې لاس راتېر کړ: غم مه کوه ، زه مې خاوند ته وایم .
زه هملته ولاړ وم ، سړی له کوټې راووت او موټر ته وخوت ، ښځه هم ور پورته شوه ، ښه شېبه دواړه سره لګیا وو ، سړي ښیښه ښکته کړه ، راغږ یې کړ ، په منډه ورغلم ، ښیښې نه مې سر دننه کړ ، ورویې ووې! ګوره چې څوک درنه خبر نشي په دې دروازه غلی راوخېژه.
وریې بېرته کړ ، ورپورته شوم ، هغه بیا له موټره کوز شو ، له هماغې دروازې چې زه راختلی وم راوخوت او له راختلو سره یې زما پزې ته بوتل ونیو. نور پوه نشوم او چې کله پوهېدم نو په یوه ښایسته کوټه کې ناست وم ، مخامخ تشناب کې مې ځان ووینځه ، نوې کالي یې راکړل ، سړی او ښځه دواړه راځنګه راغلل ، د چای کوچنۍ پیاله یې راته مخکې کېښوده ، وې ویل : ته ډېر طالع من یې ، موږ هیڅا سره داسې نه دي کړي ، ته وارخطا کیږه مه ، څو ورځې صبر وکړه موږ هم ستاسو کور ته ځو ، هه دا څو روپۍ اوس واخله .
چې کله دوی له کوره ووتل لږ وروسته ما هم دوه خپلې کړې دوه پردۍ .

د حیات ستونی ډک شو ، شونډې یې په غاښ کړې ، اوږده ساه یې راښکله : زه خو راغلم ، او بیا یې چیغه کړه ، په ژړا - ژړا یې ووې : خو زما ملګري به اوس هم ددښتې په منځ کې حیران — حیران ناست وي .

کابل پل هارتل ، دافغاني سرې میاشتې ټولنې مرکزي کتابتون ۱۳۷۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بې ځـــــوابــه

دمني سړې سيلۍ له ونو پاڼې رژولې وې ، ساړه باد دهغوی لغړ او سپېره ښاخونه لکه زمو ږ خوار ولس په خپلو منځو کې په جنگ اچولي وو . دکلي مشران دجو مات اخوا څنډې ته چېرته چې دباد مخه بنده وه ، پيتاوي ( لمر ) ته سره غونډ ناست وو. خو موږ لا د نن په څېر ناتوا نه ، نه وو . په يخ مو پروا نه راتله ، گرد خط مو ايستلی و او په منځ کې مومرته چا ر مغز ايښي وو.

د مشرانو دخبرو غږ مو اورېد ، له خبرو نه يې خندا ډېره وه اونوره هم ډېرېده .

لو به مو بس کړه ، دهغوی په لور روان شو و ، مجيد ديواله ته جو خت ولاړ و ، ترپټولاندې سينې پورې ټينگ څه نيولي وو او دنورو خولې دهغه لورته له خندا وازې وې .

يوه غږ کړ : ښه نوکر يې موندلی ،دا وايه چې ډوډۍ خو در باندې نه پخوي ؟ بيا دخند ا هر شو ، ابل سر له پټو راو وېست : يو ځان شر موي او بل ... که ځوی وای بيا هم يوه خبره ، په تا څه سخته ده چې لور ځان سره گرځوې ؟

مجيد ټولو ته وکتلې اوبيا يې غږ کړ : گورئ ! ظالمانو ! زړونه مو نه خوږېږي ؟ څه گلالي زامن مې وو ، خو چې دخدای رضا نه وه رانه وايې خيستل . په خپلو لاسونو مو راسره خښ کړل ، لور ا وزوی چا راښکلی او بيا زه خو ټوله زندگي کې ايکه يوه لور لرم او هغه هم دا سې لور ، مخ يې ورته له پټو راوويست : هغې تورچنگ بانه له سترگو پورته کړل ، لمريې سترگې وه برېښولې ، په شونډو يې موسکا خپره شوه اوبېرته يې سر دپلار پر سينه کېښود .

ناست خلک ټول دهغه مظلوميت او ددې ما شومې ښکلا منتر کړل ، چپ شول او مجيد مخ په کور روان شو .

د نرگس کوچنۍ پښې دتگ راتگ جوگه شوې او په ځينو کارونو کې خپل وس له مور سره مر سته هم کوله .

مجيد چې به کله دهغې په وړولاسونو کې لوټکه (کوزه ) وليده ، رنگ به يې وغوړېد او سترگو کې به موسک شو .

نن شپه يې تر ډېره څنگ ته کېنولې وه ، سترگې څو ځلې خوب پټې کړې خو دده تر ې زړه نه مړېده بېرته به يې ويښه کړه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسویلی یې  وویښست ،  میرمن ته یې مخ راواړو : سلیمې ! وطن کې نورې  شپې نه تېرېږي ، څه چې مو زده و ،  هغه ارزښت نه لري . ته خو خبره یې ، سبا روان یم ، خو تا ته ایکي یو امانت پرېږدم .

منم چې له ما تا ته ډېره ګرانه ده ، خو بیاهم ډېر اتیاط پرې کوه ، بې ځایه لو بو ته یې مه پرېږده ، هسې نه خدای مکړه .... ستونې یې ډک شو ، په ویدو یې ښکل کړه او بیا خپل ځای کې وغځېد .

سبا چې ښنګه نرګس  له خوب نه  پورته شوه او دپلار په خالي کټ یې سترګې ونښتې ، په منډه مورته راغله ،  خو هغې په اخوا دېخوا خبرو تېر وېسته.

سلیمې ، چې به کله ورته دکوم کار وویل ، د خاوند خبره ( ډېر اتیاط پرې کوه .. ) به وریاده شوه ، بېرته به یې  ورغبرګ کړ :څه  لورې ! ته کېنه ، زه خپله ورځم .

تو ل کارونه یې  په خپل  سر ا خیستي وو ، خو ونه شوه دا څو یمه ورځ وه چې کورکې خس خلاص شوي وو . وړه لوریې له نورو کلیوالو نجونو سر ه خاشاکو ټولولو ته ولېږله ، تر ډېره ځایه یې ورپسې دبام له سره کتلې  ،  هغه له مخامخ غونډۍ واوښته .

زړه یې اوارډېبېده ، غرمه شوه ، کله به بام ته وخته ، کله به یې دانګړ دروازې ته  ورمنډې کړې ، دخاوند خبرې ذهن ته تلې را تلې .

بیا بام ته وخته ، په مخامخ غونډۍ یې سترګې نښلولې وې . شېبه وروسته یو ډوب غږ دغونډې له سرنه راوا وښت  ، په منډه له بامه را ښکته شوه ، کله به بام او کله دروازې ته تله ، ځمکې ځای نه ورکو .

دماسپښین د اذان غږ شو ، بیا بام ته پورته شوه دکلا شاته یې غږونه واورېدل  په منډه را کوزه شوه ، لا دانګړ وره ته نه وه رسېدلې ، چې  دواړه پټې بېرته شوې .

کلیوال له کټ سره راننوتل ، دانګړ منځ کې کېښود . حویلی له ښځو ډک شو ، هغې دلور له مخه  څادر پورته کړ ، د دواړو کوچنیو لاسونودبندونو پر ځای یې سپینې لتې تاوې وې ، د یو ې سترګې ځای یې پاغوندې نیولی و او بله سترګه یې پلستر وه .

چیغه یې کړ ه : نه دا  زما لور نه ده ، دنرګس سترګې داسې نه وې ، داهغه نه ده اوله دې سره په ځمکه را  و لوېده .

کلیوالې ښځې پرې را ټولې شوې ، یوې یې سر غېږ کې کېښود : ګوره خورې ! اوس هم دخدای شکر دی ، که په خپل وخت یې روغتون ته نه وی رسولې ،ترې خلاصه به وې .

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه ښه شیبه غلې وه ، دخاوند خبرې په زړه را واوښتې ، یودم یې په کټ منګلې ښخې کړې ، زه به څه ځواب ورکوم ، هغه په ما ډېر سپارښت کړی و ، وایۍ کنه ، څه ځواب ... ؟
ښځو یو بل ته کتلې ، ټولې غلې وې ، هغه یې له کټه لرې کړه ، نصیحتونه یې ورته پیل کړل .
دلور لیدل نورسلیمې ته دخوشالۍ خبره نه وه ، په لیدلو یې او ښکې بهېدلې ، نرګس هماغه شان بې هوښه پرته وه کله به یې غبږ کړ : دا څنګه توره شپه ده ، ریکن ولګوۍ ! هیڅ نه وینم .

××××

مورې ته دا خبر له وطنه را غلي یو کلیوال ویلی و . له دې پس مو هره ورځ په کورکې په همدې اړه خبرې کېدې . نن مې بیا په دې اړه مور لګیا وه ، لا په همدې خبرو کې وو ، چې ور وټکېد ، یو بل ته مو وکتل ، خو سره و مو نه پېژ ندل ، دپاتې کېدو ټینګار مې وکړ ، هغه زما دمشر ورور پو ښتنه وکړه ، د حجرې ور مې پرانیست . هغه وې ، زه دهاشم اوښی یم ، خورزه مې راو ستې ، شیر پاو هسپتال کې بستر ده .
مورته مې دهغه په اړه ووې ، هغې ژر وویل : زمور ، چې په کې بحث و ، دهما غې ماما دی .
سودا مې نوره هم زیاته شوه ، د چایو پتنوس مې وروړ ، هغه ټوله کیسه وکړه ، نور جګېده ،ماوې نه ، نن شپه به همدلته یې .
هغه وې : دامو دویمه جمعه ده ، ایله اوس مو کور پیدا کړ . ځمه ، هلته به راته خور او خورزه دواړه په تمه وي ، نن مو خارجوي ، شپې ته همدلته را ځو .
هغه له حجرې ووت او زما سودا یې نوره هم زیاته کړه ، دنرګس دکو چینوالي څېره مې سترګو ته وړاندې — وړاندې کېدله .
کورکې مې دهغوی دراتګ ووې او زه په منډه بازارته لاړم .
هغوی لا نه وو را غلي ، راتګ ته یې ټول په تمه وو ، دموټر له هارنه سره سم د دروازې د زنګ غږ را غی ، په منډه ووتم ، ور مې بېرته کړ ، هغه حجرې ته لاړ او دایې مور له اوږې نه نېوله وه ، کورته یې دننه کړه کټ کې وغځېده ، سپینه پرده یې پرې اواره کړه. سلیمې ترور ، مې دمور پر اوږه سر کېښود ، ښه یې وژړل ، خو هغه لکه چې پوره په حال نه وه ، کله به یې بې منګلو لاسونه له پردې راووېستل ، مخ به یې اخوا دېخوا واړو ، بېرته به غلې شو ه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغې دخپلې لور کیسه پیل کړه ، مشر ورور مې دنرګس له ما ما سره په حجره کې نا ست و ، ځو کرته پورته شوم ، خو تګ ته مې زړه نه کېده ، بېرته به کېناستم ، هغې کیسه خلاصه کړه ماته یې مخ راواړو : اسده ! تا خو نرګس لیدلې وه او بیا یې په چیغه وویل دا هما غه نرګس ...

مور مې بیا ترې پوښتنه وکړه ، هغې ووې : دواړه لاسونه یې بندونو کې پرې سوي ، یوه سترګه یې وتلې ده ، خودا بله ، دخدای فضل ده ، ټپ یې جوړشوی ، سبا ترې پټۍ لرې کوي .

دچای پیاله یې کېښوده ، په مخامخ غټه هنداره یې سترګې نښلو لې وې ، ټول غلي وو ، یوازې راډیو وه چې غږېدله .

یو دم له راډیو دیوې امریکایي مېرمن اواز ، له ژړا سره راووت ، ټول ځیر شوو ، ددې میرمنې خاوند دکویټ په جګړه کې ، چېرته چې یورا نیمي وسلې کارول شوې وې ، برخه اخیستې وه ، ددې دنوې پیدا شوې لور پر مخ دهمدغو یورانیمي وسلو ا غیز شوی و او پر مخ یې دوه ، درې تور دا غونه پیدا شوي وو.

هغې په ډېرې خواشینۍ او ژړه غونې غږ وویل : که سبا مې لور په هنداره کې خپل داغونه وګوري اورانه وپوښتي څه ځواب به ورکوم ؟

دنرګس مور په اوتر نظر خپلې لورته وکتلې او بیا یې مخا مخ هنداري ته سترګې واړولې ، ولړزېده ، دنرګس په سینه یې سر کېښود او داسې چیغه ووېسته ، چې دټولو پښې یې سستې کړې .

۱۳۷۸ – ۹-۱۸ – کابل دفتح الله کلا

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شرمېدلی

په موټر کې ناست کسان د يوبل غوږونو ته نږدې شول ، پټې خبرې تبا دله شوې ، منځ کې پرده ځوړنده شوه . ښځې خو له مخکې چادريو کې پټې وې . پردې نه دېخوا نرانو هم دسرونو پټول پيل کړل ، ږير و کې ږمنځې وهل پيل شول او هرچا کوښښ کاوه ، خپله ږيره له نورو اوږده وښيي .

هريوه دسترګو ليدلی حال بيانوه ، چا به وې : پرون يې يو نفر د سرتوری په ( جرم ) له ژونده بېزه ګار کړ .

بل به غږ کړ : خدای مو ترې ساته ، پرون يې دبازار منځ کې يو ځوان په دېرو وهلو بې هوښه کړ ، بلا دُره په لاس کسان ترې راتا و وو ، له هر وار سره به يې ورته همدا ويل : په سنت موکدو شر مېږې ؟ بيا ږيره لنډوې ؟ او ....

دموټر دمنځ دروازې څنګ ته پر څوکۍ ناست ځوان ، دهرې کيسې په اورېدو سره ټکان خوړ ، رنګ يې زېړ شو ، کله به يې ځادر له ځانه تاو کړ ، ببرته به يې لرې کړ ، په ږيره يې ډېرې هڅې وکړې خو اوږده نه شوه .

د هغه لا هماغه شان لاس په ږيره کې و ، چې موټر ودرېد ، دوه ږيرورکسان چې ول —ول لنګوټي يې په غاړه کې پراته وو ، دره په لاس را پورته شول .

اخوا دېخوا يې په راوتلو سترګو وکتلې ، په هماغه زلمي ، چې ديوه سپين ږيري تر څنګ الوتي رنګه ناست و ، نظر ولګېد .

لاس کې يې دره په حرکت راغله ، سترګې نورې هم را ووېستې ، چيغه يې کړه : او بدبخته را پورته شه !

هغه ځان غلی کړ .

درې والا په ږيره لاس را تېر کړ ، ور وړاندې شو ، لاس يې پورته کړ : تاته وايم ! او کونه ! دپيغمبر پر سنتو شر مېږې ؟ پورته شه چې اسلام در وښيم .

هغه لا عذر ته خوله جوړه کړې نه وه ، چې له اوږې يې دوړې پورته شوې ، په دوتنو يې له موټره ښکته کړ .

په هغه لکه دګادی اس ، دقمچينو باران جوړ و .

(c) ketabton.com: The Digital Library

موټر کې ناستو کسانو پټ – پټ ورکتلې ، خو چا کې دویلو جرئت نه و .
دځنګ ناست سپین ږیر ی وربښکته شو ، په زاریو یې پیل وکړ ، ونه شوه .
اخر یې په دواړو لاسونو کې دعذر په خاطر د درې والا مبارکه ږیره ونیوله ، هغه په قهر ،
سرته ټکان ورکړ خو ږیره یې دبوډا په لاس کې پاتې شوه .

کابل – علوم اجتماعی
د ۱۳۷۵ کال ، د وږي ۲۰ مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کاکل

دکوټې پر مخامخ دیواله د عکسونو څو  چوکاټونه کتار  ځړېدلي وو ، ددغو چو کاټونو په منځ کې یو له نورو لوی و.  په چوکاټ کې رنګه عکس بند و ، عکس کې هغه شنې سترګې داسې پرانیستې وې چې  ، هر نا ست کس  ګومان کاوو ، چې ده ته ګوري .

هغه شونډې په وړې موسکا ښېرته کړې وې  او د مخامخ غاښونو څوکې یې ترې ښکارېدې .
له سپین مخ نه یې  ژېړه پټۍ رېیره راتاوه  وه ، ښي پلو یې سره بخو ن وېښتان اړولي وو او داسې ځلېدل ،  تا به وې دشړشموټو ل بوتل یې  پر ې اړولی دی .
سپین رېیري انور  اکا ، کله عکس او کله زما څنګ ته ناست ملګري ته کتل  ، ټول غلي وو ، اکا پیاله کېښوده ، دهغه پر      او رږه یې لاس کېښود او بل لا س یې مخامخ عکس ته ونیو .
لا س او شونډې یې دواړه رپېدلې ، خو خبره یې له خولې نه راوتله .
یودم پورته شو : بچی ! هغه هم تا غونډې دوېښتانو شوقي و ، خو... سلګیو پسې وا خیست .
شیبه وروسته یې عکس راکوز کړ ، دپټکۍ شمله یې پرې را تېره کړه : ده ته لکه چې ، خپل مر ګ معلو م و ، له عکس نه دوه ورځې وروسته یې سر وخوړ .
له سترګو یې څو څاڅکي دچوکاټ پر ښیښه ولوېد ل ، خو هغه ته لکه چې د خپل پلار ژړا بې مانا ښکاره شوه ، هماغه شان موسک و .
موږ ټول غلي وو ، واړه زوی یې ترې چوکاټ کش کړ ، یو بل ته مو وکتل او بیا ورو- ورو له خونې ووتلو .
سبا دلو ی اختر ورځ وه  او موږ کلیوال دخپل دود له مخې له سهار لمانځه وروسته هدېرې ته روان شوو.
دخپلوانو قبرونو څنګ ته درېدلو او دعاوې مو کولې .
چې  څنګه مو د دعا لپې پر مخ را کش کړې   او دبل قبر په لور وخوځېدو ،ملګری مې ټکنی شو او بیا یې مخ را واړو :
د ده د قبر خو لا دو ه کاله نه دي شوي  او بیا په کې سوری شوی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما وې دچا ؟

- دشاه محمود قبر ښییم .

له دې سره ماته پرونی ورځ را یاده شوه او ټول عکس مې سترګو ته ودرېد .

ور وړاندې شو م ، سر خواته یې سوری شوی و او دلمر وړانګه ور ننوتې وه .

زړه مې غټ کړ او له سوري مې وچ بوټی لرې کړل ، لړزې ونیولم ، خو زړه مې نه صبرېده ، سر مې ورټیټ کړ :

سپینې کوپړۍ نه لاندې اوږده هډوکې جلا — جلا پراته وو. دهغه ټول غاښونه داسې ښکارېدل تا به وې په موړ خاندي ، خو د شونډو درک یې نه وو.

دکوپړۍ خنګ ته یوه توره غوټه ښکاره شوه ، ښه ورځیر شوم ، هماغه غوړ کا کل و خو خاورو یې ځلا اخیستې وه .

کابل — دزمان خان کلا

١٣٨٤ د غبرګولي ٢٣ مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نیمګړی اثر

چې څنګه دعامه کتابتون څنګ ته له موټره راکوز شوم ، په استاد مې سترګې ولګېدې ، ګامونه مې چټک کړل او لا د پوړۍ نیمايي ته نه و پورته شوی ، چې ور ورسېدم .
هغه په یوه لاس کې له څرمنې جوړه ژېړه دوسیه ( فایل ) نیولې وه ، بل لاس یې پر دېواله اېښوده او په احتیاط یې ګام ورسره پورته کاوه.
زه هم ورپسې ورو —ورو روان وم ، چې اول پوړته ورسېد ، مخې ته یې ورتاو شوم ، چې څنګه یې راباندې سترګې ونښتې ودرېد . عینکې یې لرې کړې ، دتندي دګونځو خولې یې پر دسمال وچې کړې او په موسکا یې وویل :
دا ستاسو زلمیانو غم مې ارام ته نه پرېږدي .
— خدای دې له غمه وساته ، استاده ! کوم غم ؟
— ټوکه مې وکړه ، غم نه دی . که په یاد دې وي تاسو ټولو ؛ خصوصا تا به هروخت ویل ، چې یو ښه تاریخ ولیکه . ماهم ستاسو په خوښه دا درې میاشتې کېږي چې کار پیل کړی دی .
هملته کېناست ، دیواله ته یې تکیه وکړه ، خپلې دوسیې نه یې کاغذونه راووېستل :

ګوره ! تراوسه مې دغه کتابونه ، رسالې او خطي نسخې د ماخذونو لپاره ټاکلي او نورو پسې ګرځم .
ما ، دماخذونو ټول سرلیکونه ، چې په پښتو ، فارسي ، عربي او انګلیسي ژبو لیکل شوي وو ، له نظره تېر کړل .
ماوې : استاده ! دا خو پوره اتیا شمارې دي ، په نورو څه کوې ؟
- نه ، زه غواړم چې دا ځل ښه دقیق او مستند تاریخ ولیکم ، کېدای شي دا زما اخري اثر وي او نور راته ژوند دلیکلو مهلت رانه کړي . که ژوندی پاته هم شم ، سترګې مې ورځ په ورځ له کاره وځي .
- استاده ! خدای دی ستا سیوري زموږ له سره نه کموي ، ته موږ ته هرڅه یې .
هغه مې دکتابتون تر سالونه بدرګه کړ او بیا ترې را ووتم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

×××

پوهنځی رانه په دریم صنف کې پاتې شو ، دمونوګراف لپاره راټول کړي کتابونه مې بېرته ملګرو ته وسپارل ، خپلې خوارۍ او غریبۍ پسې ورک شوم .

کله وزګار ، څه موده مې په بټۍ کې ښختې وهلې ، کله مې موټر خالي کول او په اخره کې راته په یوه کور کې کار پیداشو .

کور جوړ و ، یواځې یوه خونه په کې نوې جوړېد له . د کور څښتن هرساعت رابانددې ګرځېده او هره ورځ به یې ویل : خان صیب ! دا لایبرري ( کتابتون ) جوړوم . ښه کار به کوې ، چې ژر جوړه شي .

له سره مې دسمنټو ټاټکی کوز کړ او سمدلاسه مې بل خالي ټاټکی را واخیست او له کوټې را ووتم ، ده چې له لرې نه څارلم غږ یې کړ .

نږدې به مې له سره ټاټکی غورځېدلی و ، ماوې : جناب ! سستي مې نه ده کړې ، دادی بیا روان یم .

موسکی شو : ستا ایمانداري راته معلو مه ده ، راځه !

بیاهم شکي وم ، او هغه دبیکارۍ ورځې رایادې شوې ، چې هوټلي په شړقنده باران کې له هوټله ووېستم او په غوصه یې وویل : څه خیرات خو نه دی . دا دریمه ورځ ده چې په قرض یې خورې ، بې ایمانه کابلیه !

زه لا زړه نازړه ولاړ وم ، چې بیایې غږ کړ : ټاټکی مې کېښود او ور روان شوم . دکوټې وریې پرانیست او ورسره سم مې خولې پر بدن یخې ولګېدې .

پر مخامخ دیواله دمحمد علي جناح عکس ځړېدلی و ، کیڼې خواته پرښکلي مېز دځمکې برېښنایي کر ه ایښې وه ، دمېز پر سر داسې ګروپ ځړېدلی و ، چې رڼا ته یې توري څو چنده لوی ښکارېدل .

پر یوه بل مېز درې څلور ډوله عینکې ، چې دمطالعې ، لمر او دوړو د مخنیوي لپاره جوړې شوې وې ، ایښودل شوې وې .

دخونې په بل کونج کې انټرنټ سره وصل کمپیوټر ایښودل شوی و . ما لا ، دخونې نور څیزونه پوره نه وو کتلي ، چې له لاسه یې ونیولم ، پرده یې کش کړه او بیایې ور پرانیست :

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکوټې غولی له باندې ډېر روښانه و ، ټولې الماری له کتابونو ډکې وې ، هرې الماری ته جلا ګروپ لګېدلی و او ځای ـــ ځای پر دېوالونو دنړۍ نخچې ځړېدلې و ې .
مخ يې را واړو : ګوره داهم ګوزاره کوي ، خو غواړم داځل يوه ماډرن لايبرري ( modern library ) جوړه کړم .
د ليکنو مېز ته يې راغلو ، يوه پاڼه يې ترې راجګه کړه او بيايې و پوښتل:
څنګه خط پړاو ولی ( لوستلی ) شي ؟
ما ژر په شګو سپېره لاسونه په کاليو وموښل او بيامې ترې پاڼه واخيسته . دا دده ديوې تازه څېړنيزې مقالې يوه برخه وه . ومې لوسته يوې جملې ته ډېر ځير شوم ، سر مې پورته کړ ، په فکر کې لاړم .
غبږ يې کړ : څنګه ويل يې درته ګران شول ؟
ماوې نه ، خو په دې يوه ځای مې شک راغی .
هغه ټول له نظره تېر کړم او بيايې هغه عينکې چې نازکه ژېړ فرم يې و ، په سترګو کړې .
پاڼه مې هغه ته پر مېز کېښوده او بيا مې هماغه جمله ور وښوده ، ماوې :

کله چې په څوارلسمه صدی کې داستعماري او استثماري ځواکونو ترمنځ دهند او خليج دنيولو سيالی روانې وې ، اول ځل المانيان نه ؛ بلکې پرتګاليان وو ، چې دهند او فارس خليج ته ورسېدل .
او بل دا لاندې جمله ګوره ! دلته هم زه شکمن يم . زما په خيال په ( ۱۵۰٦ ع ) کال کې چې الفونسوالبوکرک له کومې نخچې استفاده وکړه ، هغه د افريقايي سمندر پوه نه وه او نه يې نوم احمد بن وحيد و . بلکې هغه دمشهور عرب سمندر پېژندونکي احمد بن مجيد و ، چې دهغه په مرستې د البوکرک بېړيو دختيځې افريقا دساحلونو ، دفارس دخليج ساحلي سيمو او د هند په ختيځو ساحلونو کې يې لنګرونه واچول ، دسوداګرۍ او ځينې نورې مهمې سيمې يې ونيولې .
هغه بيا زما سپېره مخ او له ګردونو ډکې جامې په شکمن نظر وکتلې او له ځايه پورته شو .

دمېز له جعبې نه يې تور فرم والا عينکې را ووېستې ، انټرنټ ته کېناست ، د کتابونو فايل يې پرانيست او بيا يې هماغه کتاب ، چې ده ترې اقتباس کړی و ، پيداکړ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

شېبه وروسته دسکرین ( دکمپيوټر ښيښه ) پرمخ دکتاب هماغه برخه راغله .
سريې وخوځو او بيا يې ورو سترګې راپورته کړې :
ستا تعليم ؟
- هيڅ
- نه ، سمه خبره کوه .
- دنېستۍ له لاسه رانه دتاريخ د B.A دوره دريم ټولګي کې پاتې شوه .
- هغه څنګه ؟
- داخو زموږ د مشرانو برکت دی ، چې خپلو کې سره جوړ نشول او د سياليو په اور کې زموږ تعليم ، حيثيت او ابرو برباد شول .
سوړ اسوېلی يې ووېست ، شيبه وروسته يې سترګې پټې شوې او دخوب څپې يې زموږ مجلس ختم کړ .
څو ورځې مې نور هم همدلته کار وکړ او بيا چې کله ترې وطن ته راتلم ، څو تاريخي کتابونه يې راکړل .
څه وخت مې کور کې تېر کړ او بيا مې خپل سپين ږيری استاد پر زړه را وګرځېد او له دې سره سم مې دهغه ، هغه اثر ، چې ده پرې اته مياشتې وړاندې کار پيل کړی و ، په ياد شو .
نوره مې هم سودا زياته شوه ، ماوې خامخابه له چاپه راوتلی وي ، له خپلو راوړو کتابونو سره ور روان شوم .
ور مې وټکو ، زلمي زوی يې نيغ دهغه خونې ته وروستم :
استاد ديواله ته ډډه وهلې وه ، مخکې ګڼ کتابونه او قلمي نسخې پرتې وې ، راپاڅېد .
راوړي کتابونه مې ورکړل ، لاس کې واړول را واړول ، کله به يې سترګو ته ښه نږدې کړل او کله به يې لرې کړل .
ماوې استاده ! کتاب خو به له خيره چاپ شوی وي ؟ خامخا به دوه ټوکه راکوې ، يو يې زه اخلم او بل هغه چاته ورکوم چې کتابونه مې تر ې راوړي دي .
له دې خبرې سره يې چت ته وکتلې او بيا موسک شو ، انبار کتابونو ته يې لاس ونيو .
لاس يې هماغه شان لړزېده خو ، له خولې يې غږ نه وېسته .
دوه سترګې مې دهغه په خوله نښتې وې او ځواب ته يې منتظر وم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

له اسويلي وروسته يې وويل : بچيه ! مانور كتابونه او مهم اسناد هم پيداكړل ، تاريخ مې نيمايي ليكلى و ، چې عينكې مې ماتې شوې ، په دې دريو مياشتو كې مې د نورو عينكو وس پيدانه كړ او بې عينكو راته څه نه ښكاري .

۱۳۸۰ - د غبرګولي دوهمه

كابل ، كارته اريانا ، د شيرينو ښونځى

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سور پاکټ

له دېواله يې کوچنۍ ښيښه يي چوکاټ ، چې رنګه عکس په کې بند و ، را واخيست ، سترګوته يې مخامخ کړ ، شونډې ښکلولو ته جوړې کړې ، خو نا څاپه شرنګ شو او بيايې دا سې چيغه له خولې ووته ، چې ټولو ورمنډه کړه .

پر عکس ما تې ښيښې پرتې وې او شبو ورته لکه تش کالبوت نا سته وه . کوچنۍ لور يې تر غاړې لاسونه را تا و کړل او نور غلي ولاړ ول.

رستم ، له ماتو ښيښو عکس را پورته کړ ، په عکس کې هغه دښي لاس پنجه داسې خلاصه نيولې وه ، چې دګوتو او ورغوي دنکريزو سور رنګ يې ښکارېده ، پر ټټر يې ومښه او بيا يې ميرمن ته سترګې راواړولې : تر او سه خو يې دمرګ خبر نه دی راغلی ؛ له هغه مخکې ته مړه نه شې .

هغې ، لکه چې هيڅ نه وي او رېدلي ، هماغه شان چپ نا سته وه او مړې او ښکې يې ګډوډې په اننګو را بهېدې .

دا پنځمه ورځ وه ، چې سميع کورته نه و راغلی . له پلار نه يې سودا ګري پاتې وه ، ټوله ورځ په همدې لټه کې و ، خو ما ښام به يواځې دهغه له خيالونه سره را ستون شو .

شبو ورو- ورو مړاوې کېده او ور سره يې خوی عادت هم بدلېده ، لمانځه ته به ودرېده ، خوتر خلاصېدو به يې صبر تمام شو ،يو دم به يې له سينې لاسونه پورته او مخ ته به يې ونيول ، خو دعا به يې په نيمايي کې په ساندو بدله شوه .
ټوله شپه ځان سره غږېده ، کله خوبه يې غږ دومره لوړ شو چې بچيانو به يې رڼا بله کړه .
سهار له ويښېدوسره به يې ، دسميع پر بوټونو برس وواهه ، دکتا بونو بکسه به يې راو اخيسته او بيا به تر ډېره دهغه له خالي کټ سره په خبر و لګياو ه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

نـن سـها ر ، چې ثنګه چای تـه کېنـا سـتل ، د کلا د ور ترشـا د مـوټر سـایکل غـږ شـو ، غږ ثوځلې او چت شواو بیا لکه په چتکۍ چې یې تېښته کړې وي ، پسې ورک شو .
دسمیع پلار دچای پیاله کېښوده ، په منډه دروازې ته لاړ ، دور مخ ته دټایرونو خا پونه معلو مېدل . نظر یې ورپسې وزغلو خو تر سترګو نه شو .
چې ثنګه یـې ور تـړه ځمکې تـه یـې پام شـو ، کاغذي پاکـټ چې سره خاپونـه وربانـدې وو ، پروت و.
د پاکټ پرمخ دسمیع نوم داسې لیکل شوی و ، لکه چې خپله یې لیکلی وي ، پاکټ درونـد او منځ یې جګ ولاړ و ، په منډه خونې ته راننوت ، کله یې پاکټ او کله یـې دمیرمن په لاس کې د۱۳ کلن زوی عکس ته کتل چې منګول یې خلاصه نیوله وه .

شبو دخاوند په لاس کې پاکټ تـه سترګې هکې پکې نیولې وې . پاکـټ یـې پرانیسـت ، سـور کلوله کاغذ باندې لیکل شوي وو : پیسې رالیږې او که ... چې دجملې پاتې برخې پسې یـې کا غذ سپړه ، درب شو اودوه سرې ګوتې دشبو په لمن کې ولوېدې .
کابل ــ دزمان خان کلا- دمر غومي اوله ۱۳۸۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زوړ ګېلن

له شنه سهاره ، دقوې دراتلو اوازه وه ، دکلي پېغلې او ځوانې ميرمنې له خپلو ماشومانو او قيمتي شيانو سره ليکه – ليکه دغره په لور روانې وې .

شېبه پس ، کلی له ځوانو ښځو او ميرمنو تش شو . مجاهدين يو- يو له خپلو کورونو را وته او د ټوپکو شپيلۍ يې لمر ځلولې .
چنار لاندې سره راټول شول ، چا خپلې وسلې پاکولې ، چا شاژورونه ډکول او چا په چانټو ګوتې وهلې .

قوماندان ، چې دچنار ډډ ته ډډه وهلې وه ، په خپله ماشينداره يې غوږه لته راتېره کړه ، دوه درې ځلې لټ راکش کړ او چې هر وار ترې اخوا دېخوا مرمۍ ولوېدې نو بريتونو لاندې موسکی شو .
بېرته يې شاژور کې کېښودې ، قيد يې وواهه ، راکټ يې له منځه راجګ کړ او بيايې وويل :
هلکو ! ماڅو کرته ويلي ، چې ترڅو امر شوی نه وي نو ډزې مه کوئ ، خو تاسو هغه وخت په ځان نه پوهېږئ ، له قوماندې مخکې شاژورونه تش کړئ .
داځل به داسې نه وي ، اوازې دي چې قوه ډېره لويه ده ، که په تخنيک ونه جنګېږو تباه کېږو .
راکټ يې نور هم جګ کړ : او ل ډز به دهمده وي او بيا ... لايې خبره پوره کړې نه وه ، چې توريالی راوړاندې شو :
قو ماندان صيب ! ځو کرته مې درته ويلي ، داځل چې هر څنګه وي راکټ به ماته راکوې او بيا يې خپل پنځه ډزي ټوپک ته ، چې په شپيلۍ کې يې سور ځونډی بند و ، لاس ونيو : زه نور دا اوږده بلا نه شم ګرځولی . ابله قوه کې مې څو مرمۍ ټانک پرې وويشت ، دکاپر ځوی والله که پرې خبر وو ، ترڅو ترې شنې لوخړې پورته نه کړم زړه مې نه يخېږي .
قو ماندان خپلو مجاهدينو ته مخ واړو :

(c) ketabton.com: The Digital Library

توريالی له ډېره وخته راپسې دی . څو ځلې يې راته ويلي ، ښه زړوردی ، خو په راکټ مې زړه نه کېږي . سم راته په سُر برابر نه ښکاري .

هسې نه يا ځان ژوبل کړي او يا مو له دې يوه راکټه خلاص کړي .

توريالي سترګې سرې شوې ، ټولو ته يې بدې - بدې وکتلې او بيايې دستي چانټه له ټټره خلاصه کړه ، ټوپک يې کېښود او په تلو — تلو کې دګوتې په خوځلو سره وويل : يابه بې سُره توريالی نن خپل سرخوري اويا به ...

قو ماندان څو غږونه ورپسې وکړل ، خو ده يواځې ( راکټ دې په تاسو مبارک وي ) ووې او د ونو په منځ کې ورک شو .

دماسپښين اذانونو ته لا وخت پاتې وه ، چې د شوبلو ډوب — ډوب غږ ونه راورسېدل .

مجاهدينو د د عا لپې پورته کړې او بيا دسترګو په رپ کې ټاکلو ځايونو ته ورسېدل .

دهغوی له رسېدو سره سم ، له مخامخ غره ، څو چورلکۍ را واوښتې او په شاوخوا سيمو يې دسکروټو باران جوړ کړ .

څو دورې يې ووهلې او بيا بېرته له سترګو پناه شوې . دټانکونو غږونه رانږدې شول ، سړک ته د نږدې کورونو ښېښې په جړقېدو شوې .

توريالي هم له خپل زوړګيلن سره ، ځان ور رسولی و او له سړک نه لاندې بوټو کې پټ و .

دکتار د اول سر ټانکونه او څو پوځې موټر تېر شول ، خو لا يو خړ ټانګ له دوه موټر و سره پاتې و ، ورو- ورو رانږدې کېدل او دتوريالي وينه هم په خوټېدو وه .

لا پناه شوي نه وو ، چې دراکټ ډز نږدې غره داسې په شوق بدرګه کړ ، تا به وې د ده هم په خپله لمن کې سورمخو يرغلګرو ته زړه ډک و .

ورپسې دماشيندارو غږونه پورته شول ، ځينې موټر به څو ګامه په يوه ډډه روان وو او بيا به په ګړنګونو کې ورک شول .

له پوځې موټرو ښېبه په ښېبه شنې لوخړې پورته کېدې او پر سړک يې خولې لګولې .

ورپسې ټانکانو کې ناستو کسانو ، چې دخپل سره انقلاب د پرمختګ ضد عناصر يې تورو کندو ته لېږل ، نو ويشتل شوي موټر او شوبلې يې کندو ته غورځول او په تېښته کې يې د پرمختګ لاره ځانته اواروله .

ښېبه وروسته ، دسړک دواړه غاړې له اوسپنيزو خوليو او اوږدو چرمي موزو ډکې شوې .

د مجاهدينو د ګڼو ګروپونو له خوا ډزې روانې وې ، شنو لوګيو يو بل اسمان جوړ کړی و .

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروستی ټانګ زړه نازړه توریالي خواته راورسېد ، خو چې کله یې په هوا کې دلوګیو ننداره وکړه ، چینونه یې سست شول ، دمخې تاو ولو په لټه کې شو . توریالي حوصله بایلوله ، دتکبیر له زړه لړزونکي غږ سره پرې ور وخوت ، ګېلن نه یې سرپوښ لرې کړ ، راټیټ یې کړ او بیا له اور لګیت نه پلته راووېسته .

په ټانګ کې ناستو کسانو ، چې له خلاص سره دا ننداره وکړه ، سترګې سپینې واوښتې ، دلاسونو په جګولو سره یې د ( دوست!) ( دوست !) چیغې پورته کړې .

توریالي ، چې دګیلن خوله یې هماغه شان ټیټه نیولې وه ، په اشاره یې ټانګ ته له سرکه نه دکوزېدو امر وکړ .

ټانګ لاندې پټیو کې ودرېد اوپه ټانګ کې ناست درې واړه کسان ، چې لاسونه یې جګ نیولي وو له هغه سره کلي ته راغلل .

مازیګر لمر په پرېوتو وو ، چې ډزې غلې شوې ، دقوې پاتې کسانو او موټر په تېښته ځانونه ولایت ته ورسول ، شېبه پس خړ پړ مجاهدین ، چې پر شونډو یې دغرور موسکا خوره وه ، له نوو ماشیندارو او لاس ترلو سور مخو سره را ورسېدل .

د قوماندان ، چې په پټي کې په ټانګ سترګې ونښتې ودرېد ، راکښ پسې سترګې وګرځولې ، خو چې کله یې توریالی له نوو کسانو او کلیوالو سره ولید ، مخکې راغی ، توریالی پرې غږ کړ : قو ماندان صیب! ودې لید بې سُره توریالی ؟

قو ماندان او مجاهدین هک پک وو ، ناستو درې واړو هم هرچاته شنې سترګې اړولې او لړزېدل .

قوماندان یو ځل بیا ، په پټي کې ولاړ ټانګ او توریالي ته وکتل او لایې پوښتنه نه وه کړې ، چې هغه ټوله کیسه تېره کړه .

قو ماندان نور هم ورنږدې شو : ښه نو په دې لنډ او تنګ وخت کې دې پټرول له کومه کړل ؟

توریالی له خندا شین شو ، ګیلن یې پر سر واړو او چې ، کله یې ترې دوه درې غټ غړپونه وکړل نو د سور مخو رنګونه لاپسې سره شول ، یوبل ته یې مرې وکتلې او سرونه یې ښکته واچول .

کابل ، ۱۳۷۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بې کوره

په څه خوارۍ د دروازې ټکارۍ دباد او باران له شوره ، تر خونې را ورسېد . مخامخ دېوالي ساعت ته مې وکتلې ، نن ورځ یې هم رانه ټوله خوړلې وه .

بیا ټکارۍ شو ، ځادر مې له ځانه را تاو کړ ، د دروازې له درزونو رڼا ښکاره شوه ، د وره تر شا مریم ترور له دوه وړو لورګانو سره ولاړه وه . اوارې رېږدېدلې ، کوټې ته مې ر اوستې .

تابه وې ژړا یې موږ ته ساتلې وه ، له کېناستو سره سم یې چیغې پیل کړې ، وړو نجونو هم سرونه پر زنګنو کېښودل او سلګیو ونیولې .

د هغې شونډې بیا ورپېدې خو مور مې تر ې مخکې شوه : مریم ! تېره جمعه دې هم کور کې شور و او نن هم ، خبره څه ده ؟

هغه لکه چې همدې پوښتنې ته په تمه وه ، ژر یې ځواب ورکړ : دکور دخاوند له لاسه ، هغه وخت هم کرایې پسې راغلی و او نن خو یې وویل ، چې که کرایه دې را نکړه نو له کوره به دې وشړم .

خپلو لور ګانو ته یې مخ واړو : په ماخو دنیا تېره ده ، په دغو یتیمانو مې زړه سوزي ، دچا په کورونو به یې ګرځوم ؟

شېبه وروسته یې دسلګیو له بدرګې سره ووې : خدایه ! په شته کورکې دې بې کوره کړم او له دې سره یې نیمکښه سترګې چت ته ونیولې او سر یې پر تکیه کېښود .

دهغې شونډې ورو — ورو رپېدلې او دسترګو له کونجو یې ګډې وډې اوښکې را روانې وې .

ماسترګې په مریم نښلولې وې ، خو په ذهن کې مې دهغې دغې جملې ( خدایه! په شته کور کې دې بې کوره کړم ) ته ځوابونه لټول .

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلې کوټې ته لاړم او ترڅو چې ویښ وم ، د هماغې جملې په اړه مې سو چونه کول : ښه ، چې کور لري نو ولې کرایي اوسېږي ؟ خپل کور ته ولې نه ځي ، تر څو به داسې در په در وي او ... ؟؟

سبا چې څنګه له ښونځي راغلم ، مریم دخپل کور دروازې مخ ته ، چې زموږ دکور مخامخ وه ، ولاړه وه . غږ یې کړ : زویه ! تاته په تمه وم . نن به راسره زموږ تر کوره ملتیا ونه کړې ؟
ما چې دهغې کورته له پخوا سودا وه ، د ولې نه ، په ویلو مې په منډه کتابونه دخونې منځ ته ګوزار کړل او بېرته را ووتم .
څلور واړه ، له موټره کوز شوو ، دکوڅې دواړه خوا دیوالونه سوري —سوري وو ، په هر دېواله ګولیو داسې خولې لګولې وې ، تا به وې جګړه مارو له خپلې خاورې سره هم دښمني درلوده .
د کوڅې پر یوه دیواله د ( زمو ږ جهاد ادامه لري ) جمله لیکل شوې وه ، د یوه ستر کور مخ ته له شګو ډکې بوجۍ یو پر بل لپاسه اېښودل شوې وې .
د بوجیو په منځ کې یو ځوان ، چې برګ دستمال یې په غاړه کې و ، مخابره په لاس ولاړ و .
بل له ځانه دمرمیو شریدونه تاو کړي وو او د زیکو یو توره شپیلۍ لکه وږی مار تاوېده را تاوېده .

له مخامخ کوره دبارودو او له دې پوستې نه دچرسو لوګي داسې پورته کېدل ، تابه وې خپل وطن په نشه کې ورانوي .
له کوڅې ووتو ، چې څنګه میداني ته ورسېدو ، مریم ګړندۍ شوه ، لکه څوک چې ورته غږونه کوي ، همداسې چټک روانه وه ، یودم یې ګامونه سست شول ، کېناسته ، لونې یې سرته ودربدې . له دواړو لا سونه یې ونیوله او را جګه یې کړه .
په بې دروازې کور ننوتو ،او سمدلاسه مو په دوه غبرګو قبرونو نظر ولګېد ، دقبرونو له پاسه وچ واښه باد رپو ل او دیوه له پاسه د ماتو بنګړیو ټوټې پرتې وې .

مریم ، د مخامخ کوټې چې نیم دېوال یې رنګ شوی و او له سوري بام نه پرې دلمر پلوشې غوړېدلې وې ، لاس ونیو. لاس یې هماغه شان په هواکې رپږدېده ، په خبرو لګیاشوه :

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهمدې کوټې په رنګولو زوی او پلار لګیاوو ، د زوی مې د واده نېټه نږدې وه . یو دم انګړ سره لنبه شو . له همدې کوټې تور لوګي پورته شول . ورمنډه مې کړه ، هغه دواړه لکه تازه حلال شوي مالونه په خپلو وینو کې شتېدل .

له دې خبرې سره یې پښې سستې شوې د دواړ و قبرونو منځ کې کېناسته ، مخ یې را واړو : بچیه!

ډېره بده ورځ وه ، دکابل په هر کوڅه کې سور اوربادېده ، د ګاونډیو په مرسته مې همدلته خښ کړل .

هغې نورې کېسې هم کولې خو ، خوله یې وچه شوه ، په هماغه قبر چې دماتو بنګړیو ټوټې پرې پرتې وې سرکېښود او له سترګو یې داسې او ښکې روانې شوې ، تا به وې و چ واښه خړوبوي .

کابل – دزمانخان کلا ، د ۱۳۸٤ کال دسلواغې دوهمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# چنار څنګه مات شو ؟

دموټر له یو نا څاپي بریک سره ، د ناستو کسانوخولې پر څو کیو ولګېدې ، د خیر چیغه ، لکه دسګرټ لوګی په موټر کې تا وه را تاوه شوه . دموټروان سترګې په وړه ښیښه کې ښکاره شوې .

پرسړک ولاړ کس ، چې کلاشینکوف یې او ږه کې بند و ، د څنډې ته کېدو اشاره وکړه او بیا په بېړه موټر ته راو خوت.

دهغه دښویه پلن مخ په پورتنۍ برخه کې ، یوازې له یوې تورې زخې دوه درې تاره وېښتان را څړېدلي وو ، په ببر و او دوړنو سر یې تور دستمال راتا و کړی و. وړې او تنګې سترګې یې هغه وخت لا پسې تنګې شوې ، چې کله یې د ټوپک په شپېلۍ یوتن وسیخه.

ټول غلي وو ، موږ نه وړاندې درې موټرنور هم ولاړ وو ، دموټرو تر مخه پر سړک زنځیر تېر و او تر زنځیر لاند ې دټانګ چین نه پوله جوړه شوې وه .

دواړو خواوته ګوته په ماشه کسان ولاړ وو .

زموږ موټر هم ورو- ورو دولاړو موټرو تر څنګ ودرېد ، دوه وسلوال چې مخامخ یې شنې چانټې تړلې وې ، راپورته شول .

دواړو دټوپکو شپېلۍ ناستو کسانو ته نیولې وې او موږ لکه دښکار یانو د ډنډ بوتان غلي ناست وو.

زما خواته پریوې څوکۍ دسپین ږیري سره جوخت یو تنکی ځوان ، چې اینه دار ه واسکټ یې په تن او نیمکله خولۍ یې پرسر وه ، ناست و. شونډې یې تلې او راتلې او سترګې یې په رپا وې . کله یې چت اوکله یې خپلو زنګنونو ته کتلې .

شېبه پس یې د ټوپک میله په او ږه ونښته ، او وارونه خو پرې هغه وخت زیات شول ، چې کله یې له خولې د ( وه خدایه ! ) کلمه ووته .

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه ټولوته ډنډ سترګې را واړولې ، خو هیڅا ورته پرته له سترګو ټیټولو نورځواب ورنه کړ.
دکنداغونو او لغتو په وهلو یې له موټره ښکته کړ .
سړک نه وړاندې پرکټ غټ پرېړ سړی ، چې کټ نه یې ډډې راوتلې وې ، یو بغله پروت و.
پرمېز یې دتومانچې ترڅنګ دسګرټو قوتۍ ایښې وه ، کټ نه څو ګامه وړاندې اته - نهه کسان
دپښو پرسر ناست او سترګې یې پرځمکه نښلولې وې .

دی یې دکټ مخ ته ورته ودراوه ، پرېړ سړي ښکته پورته ور وکتلې او بیایې تو مانچه دښي لا
س په ګوته کې په څرخېدو شوه . دنوم پو ښتنه یې ترې وکړه ، په خبره یې پوه نه شو ، غلی
ولاړ و ، خو دواړه سترګې یې دهغه په تو مانچه نښتې وې ، هغه بیا پرې غږ کړ . ده ورو وویل
: ( چنار ) ددې نوم په اورېدو لکه وږی تمساح په کټ کې تاورا تاو شو ، لاس یې دهغه تر
ګریوانه ور ورساوه او بیا یې له یوه ټکان سره په ناستو کسانو وغورځاوه .
خپلو ملګرو ته یې څه وویل او بیا سمدلاسه یې دهغو لرګیو ډېرۍ ته ودراوه ، چې لا یې پر
څوکو د دیوالونو وچې شوې ختې نښتې وې .

هغه لکه په لرګي چې بدل شوی وي ، غلی ولاړ و خو ، چې پوه شو ، دلرګیو ماتولو امرورته
شوی تبر پسې یې سترګې ګرځولې .
پر کټ ناست سړي تر سترګو لاندې څاره ، زړه یې تنګ شو ،له کټ نه یې ټوپ کړ ، په یوه
لغته یې پر لرګیو خطا کړ ، هغه ورو وویل : قو ماندان صیب تبر نه شته ، څنګه یې مات کړم
؟
هغه نور هم تورشو ، په غوسه یې ووېل ( زبان ته میبروم ) اوبیا یې په خوله لغته ورکړه ،
پرسمټې لښتي یې پړمخې وغورځاوه ، غټه تیږ ه یې په دواړو لا سونو را پورته کړه او بیا تر څو
چې مو ، سترګې پټولې ، له یوې لنډې چیغې سره مو دهډکو کړچهار واورېد .

د ثور ۲۷ مه ، ۱۳۸٤

کابل ، دزمان خان کلا

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ترهګر د لیکوال لنډه پېژندنه :

محمد نعمان دوست د خدای بښلي خیرالله خان زوی ، په ۱۳۵٤ کال کې د لغمان د الینګار ولسوالۍ د کوځي کلي په پاس کلا کې پیدا شوی دی .

نوموړی لا ښونځي ته د تلو نه و ، چې له کورنۍ سره د سرو یرغلګرو او د هغوی د ګوډاګیانو له شره پاکستان ته مهاجر شو .

دوست ، هملته د ښونځي په ور پل کېښود او په ۱۳۷۰ کال کې د هریپور په پنډ غالي کې له النصر لیسې څخه فارغ شو .

په ۱۳۷۱ کې د دعوت او جهاد پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي په پښتو څانګه کې شامل شو او بیا یې داخر کال اخري سمستر په ۱۳۷٦ کال کې ، په کابل پوهنتون کې پای ته ورساو .

نوموړي د ښونځي په دوره کې شعر لیکلو او د پوهنتون په دوره کې کیسې لیکلو باندې پیل کړی دی .

د ترهګر په نوم ټولګه یې لومړی چاپي اثر دی .

د دوست کوچینوالی په جلا وطنۍ او د ځوانۍ لومړي کلونه یې ، په داسې وخت کې تېر شوي چې په کابل کې د واک په سر کورنۍ جګړه توده روانه وه .

دوست ، د سره پوځ د وحشتونو کیسې اوریدلي او له هغه وروسته د ولس نورې بدبختۍ خپله لیدلي دي .

همدا لامل دی چې کیسه اوشعر یې دواړه په یوه نه یوه ډول غمجن حالت بیانوي .

له لومړۍ ټولګې یې ښکاري ، چې که ژوند ور سره وفا وکړي نو د ډېرو ښو هنري اثارو تمه ترې کېدای شي .

په عمر او قلم یې برکت شه                                        عبدالمعید هاشمي

مهتر لام ، د ۱۳۸٥ کال د مرغومي دوهمه

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**